د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د توضیح پاڼو د خپرونې لړۍ

لورین فلمنګ او الن روی
د ۱۳۸۸ کال د غويي میاشت

# د کرنې او د کلیو پراختیا په اړه پالیسي جوړونه

## منځپانګه


۱. سریزه: ولې د پالیسي جوړونې بهیر څېړل کیږي؟ ۳
۲. "د کلیو سکتور" او د دوو وزارتونو جوړول. ۶
۳. د کرنې او کلیو د پراختیا په اړه د پالیسۍ درې فلسې. ۱۰
۴. د پالیسۍ د فلسفو په هکله مباح ۱۷
۵. د پالیسۍ جوړونې بهیر او عمل ۱۷
۵. مونږ چېرې تلای شو؟ ۲۳


## دلیکوال په هکله

آدم پین

ښاغلي آدم پین د تیرو ۲۰ کلونو لپاره د کلیوالي معیشت په اړه یې د هیمالیان په سیمه کې کار کړی دی. نوموړی د برتانیې د ختیځې انګلیا د پوهنتون د پراختیایي څېړنو په ښوونځي کې د څېړنې د همکار په توګه کار کوي او همدارنګه د سویدن د آپسالا د کرنیزو علومو د پوهنتون د ښاري او کلیوالي پراختیا په څانګه کې د مېلمه استاد په توګه په کار بوخت دی.

## څغلنده کتنه

دغه توضیحي پاڼه په افغانستان کې د کرنې او کلیوالي پراختیا په برخه کې د کرنې، اوبولګولو ، مالدارۍ او د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارتونو لخوا د پالیسي جوړونې بهیر څیړي. دغه څېړنه په ۱۳۸۲ او ۱۳۸۷ کلونو کې تر سره شوې ده. پدې سکتور کې پالیسي جوړول او د هغه منځپانګه د خورا پاملرنې وړ دي، ځکه د هېواد زیاته برخه بیوزلې خلک د افغانستان په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي او کرنې ته د اقتصادي ودې د خوځوونکي یا انجن په سترګه کتل کېږي.

ګڼ شمېر عمومي لاملونه چې د پالیسي جوړولو لارو چارو ته لیوالتیا لري شته دي. د ډیرو خلکو له نظره یوه ښه پالیسي هغه ده چې تخنیکي وي او د شواهدو پر بنسټ ولاړ استدلال ملاتړ ورسره وي. که څه هم چې یوه ښه پالیسي باید نه یوازې تخنیکي وي ، بلکې باید سیاسي ملاتړ هم ولري. دا د پالیسي جوړونې مشورتي بهیر ته اړتیا لري او متضادو لیدلورو سره اړیکه ولري، دغه پاڼه پدې لټه کې ده چې آیا د کرنې او کلیو د پراختیا په سکتور کې داسې شرایط رامینځ ته شوې دي او آیا تر اوسه د کرنې اوکلیو د پراختیا د سکتور د پالیسۍ جوړولو هڅې داسې یوه پالیسي چې د تخنیکي اړخه پیاوړې او سیاسي ملاتړ هم ولري رامینځ ته کړې.

پالیسۍ تل ساده وي، پداسې حال کې چې هغه ادراک او پوهه چې پالیسي یې په ښه کوي خورا پیچلې او نا څرګنده ده، نو د پالیسۍ جوړونې اصلي دنده د دا راز نا څرګندوالې راټیټول دي تر څو د حل لارې وړاندې کړي. د پالیسۍ جوړولو د ساده کولو بهیر د پالیسۍ د حکایتونو او فلسفو د رامینځ ته کولو لامل کیږي. د کرنې اوکلیو د پراختیا د پالیسي جوړولو د پروسې او د هغه د منځپانګې د بیاکتنې پر بنسټ د پالیسۍ درې فلسفې چې د پالیسي جوړونې اجندا هڅوي پیژندل شوې دي. د فلسفو د جوړښت، منځپانګې او چمتووالې درک د پالیسۍ د بهیر د ماهیت د درک لپاره اړین دی. دا ټول درې فلسفې د افغانستان د کلیوالي حالت په هکله چې د افغانستان د کلیوالي سیمو او د هغه کلیوالي بیوزلۍ د درک په اړه د لړو ژمنو څرګندونه کوي یوه ګډه اوعمومي کیسه یا شرحه یا یوه

خيالي کيسه شريکوي. که څه هم هر يو پدې اړه چې د پالیسۍ ستونزه څه ده او څرنګه بايد حل شي، بيلې پايلې وړاندې کوي. درې واړه تخنيکي پياوړتياوې او کمزورۍ او د سياسي ملاتړ بيلابيلې کچې لري چې د جګړې وروسته د افغانستان حالت د څرنګوالې په هکله له بيلابيلو ليد لورو له خوا يې ملاتړ کيږي.

د پالیسۍ جوړولو لومړی فلسفه، يو توليدونکې فلسفه ده چې د کرهنې اوبو لګولو او مالدارۍ په وزارت کې پيدا کيږي. دا د ۱۳۵۷ کال څخه وروسته د کرهنيزو توليداتو په له مينځه تللو او ورسره جوخت د هغه پر بيارغونې ټينګار کوي. دا خپل درک له هغه ځايه تر لاسه کوي چې د افغانستان کرهنيز سکټور په تير وخت کې يې درلود او غواړي چې دا بيا تر لاسه کړي او داسې انګيرل کيده چې دکرهنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په دې برخه کې مهمه ونډه درلوده. همدا راز دغه فلسفه د کرنې او کليو د پراختيا په برخه کې د دولت مقام ډير پياوړی ګڼي.

دويمه فلسفه يوه پراختياورکونکې فلسفه ده، کوم چې په بيلابيلو کچو د د ښه حکومت دارۍ، د خصوصي سکتور تر مشرۍ لاندې پرمختګ، وده او د بيوزلۍ په راټيټولو تمرکز د اهميت په هکله د بسپنه ورکونکو د نظر يووالی تاييدوي. پراختيا ورکوونکې فلسفه د بېوزلۍ له منګولو څخه د بېوزلو خلکو د راايستلو بنسټيزه ستونزه، د عامه خدمتونو او توکو نشتوالی او د بېوزلۍ څخه د خلکو د وتلو لپاره د مناسب چاپيريال نشتوالی ګڼي. او د حل لپاره يې د داسې يو چاپيريال د رامينځ ته کيدو وړانديز کوي چې له مخه يې ښه اداره وده وکړي، د عامه خدمتونو په برخه کې( لکه لارې، ښوونځي او بيخبنا ) د پانګونې څخه ملاتړ وکړي او د بيوزلو په ګټه پروګرامونه او پانګونې ددې وړ وګرځوي څو د کليوالو بيوزلو د سوکالۍ لامل شي. چې دا په پراخه توګه دبيوزلو لپاره د هغو فرصتونو په رامينځ ته کولو را څرخي چې په خپلواکه توګه عمل وکړي او خپل برخه ليک په خپله وټاکي مګر د ټولنيزې بيعدالتۍ د غير رسمي جوړښتونو او هغه ځواک ته چې د بيوزلو لپاره فرصتونه محدودوي لږه پاملرنه وکړي. زيات شمير هغه بسپنه ورکونکې چې د کرهنې اوبو لګولو او مالدارۍ له وزارت سره کار کوي او د کليو د بيا رغونې او پراختيا له وزارت دغه پراخيتايي نظر په پام کې لري. دغه فلسفه ددولت لپاره يو منځنی رول په پام کې لري.

دريمه فلسفه د پالیسۍ جوړولو په برخه کې "بازار هڅونکې" فلسفه ده چې د پراختيا د هڅونې په برخه کې د خصوصي سکټور په رول زيات ټينګار کوي او د دولت لپاره کمه ونډه مني. نوموړې فلسفه ديو آزاد بازار د څرګند نشتوالي او په اقتصاد کې ددولت د غير ضروري اقداماتو مخه نيسي. د۱۳۸۱ کال راهيسې ددې مفکورې پلويانو په ښکاره توګه خپل تمرکز د يوه غښتلې آزاد بازار د ملاتړ څخه په افغانستان کې نړيوالې کرهنيزې سوداګرۍ او د کرنې د سکټور سوداګريز کولو ته اړولی دی.

لکه څرنګه چې وويل شول د کليو د پراختيا او بيارغونې وزارت پرمختګ ورکوونکې دريځ لري، پداسې حال کې چې د کرهنې اوبو لګولو او مالدارۍ په وزارت کې دوه ډله خلک شته دي يو هغه کسان چې د توليدونکې مفکورې ملاتړ کوي افغانان دي، د بسپنه ورکونکو او د هغوی د سلاکارانو يوه ډله پراختيا ورکونکې مفکوره لري او يو بسپنه ورکونکی چې بازار هڅوونکې اجندا لري او د بازار هڅونکې مفکورې څخه د ملاتړ سره د کار رامينځ ته کونکی دی.

هغه هڅې چې دغه د يو بل نه ليرې مفکورې د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ دکرنې او کليو د پراختيا په ګډه سکټوري ستراتيژۍ کې سره يو ځای کوي په پراخه توګه پاتې راغلې دي. هغه څه چې د کرهنې او کليو د پراختيا د پالیسي جوړونې بهير يې څرګندوي ديوه پياوړې بشپړونکې د راسپړلو پر ځای دنوموړو موقفونو او مفکورو د ملاتړ تر مينځ سيالي ده. ددغه سيالۍ په پايله کې د يوې سيالې پالیسي جوړونې بهير را مينځ ته کيږي چې هلته د پالیسۍ مفکورې او د هغوی ملاتړې ددې وړتيا نه لري څو دغه سيال نظرونه ومني. په پاي کې داسې يو فرصت چې د پالیسۍ د هر يوې مفکورې جوړښتي پياوړتياوې او نيمګړتياوې په نښه کړي، او د پالیسۍ غوره انتخابونه را وسپړي او د کرهنې او کليو د پراختيا يوه منسجمه پالیسي را مينځ ته کړي. د کرنې اوکليو د پراختيا جوړه شوې سکټوري ستراتيژي د تخنيکي اړخه پياوړې نه ده او سياسي ملاتړ له ځانه سره نه لري.

دغه څېړنه سربېره پر دې چې د کرنې د کلیو د پراختیا د پالیسۍ جوړونې د بهیر نیمګړتیاوې په ډاګه کوي، دافغان دولت د مشرتابه د وړتیاوو محدودیتونه هم څرګندوي چې هغې ته په پام سره په لوړه کچه په مرستو باندې تکیه لري. د بسپنه ورکونکو د ټولو پروګرامونو په کچه بسپنه ورکونکې د دولت د بودیجې د واک نه بهر پروګرامونو سره د مالي مرستې له لارې یا په یوه ځانګړې ولایت کې د ټاکل شوې مالي پروګرام له لارې د پالیسۍ ملي مشرتوب کمزورۍ کوي.[1] د دغه بسپنه ورکونکو چال چلند د ظرفیت د لوړولو لامل نه کیږي او د همغږۍ اړتیاوې لکه څنګه چې د پاریس په اعلامیه کې د مرستو د اغیزمنتوب په اړه یې وړاندوینه شوې وه نه پوره کوي.

هغه لمړنۍ لوست چې د کرنې او د کلیو د پراختیا د پالیسي جوړونې له بهیر څخه زده کیدای شي د پالیسۍ د غوره انتخابونو د اهمیت پیژندنه او د هغې په هکله د خبرو اترو د فضا را مینځ ته کول دي. ددولت د پالیسۍ جوړونې د تاریخ نشتوالې، د سیاسي او پالیسۍ موخو په ټکر کې او سیدل او سیاسي شک ته په پام سره په افغانستان کې د یوې ښې پالیسۍ جوړونه ستونزمن بریښي. یوه لاره چې د پالیسۍ د خبرو اترو لپاره مناسب فرصت رامینځ ته کوي د پالیسۍ د څرنګوالې اړوندو پریکړو په برخه کې د بسپنه ورکونکو د اغیزې کمول دي. بله ممکنه لاره چې د پالیسۍ د خبرو اترو لپاره مناسب فرصتونه برابروي د سکټوري متخصصینو پر ځای د پالیسۍ د خپلواکو شنونکو ګمارل دي کوم چې په یوه ځانګړې بسپنه ورکونکې پورې تړلې نه دي او کولای شي د وزارتونو څخه ملاتړ او د پالیسۍ د خبرو اترو سر پرستي وکړي تر څو له تخنیکي اړخه پیاوړې او د سیاسي ملاتړ درلودنکې پالیسۍ را مینځ ته کړي. د پالیسۍ د شنونکو څخه ګټه اخیستنه د یوې ژورې افغانی مالکیت درلودونکې پالیسۍ پر لور مرسته کوي.

دویم لوست چې د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسي جوړونې بهیر د څیړنې څخه لاس ته راځي د پالیسۍ جوړونې په بهیر کې د وګړو او شخصیتونو مهمه ونډه ده. دغه ونډې کیدای شي جوړوونکې او یا زیان لرونکې وي. هغه کسان چې د پالیسي جوړونې په بهیر کې د اغیزې په لټه کې دي د خبرو اترو د اغیزې لپاره یو فرصت لري، مګر باید د خپلې اجندا د تعقیب لپاره د یوه ستراتیژیک او سیاسي چال چلند څخه ګټه واخلي چې دا ددوی د سیالانو د ځانګړو سیاسي ګټو درک او د هغو لارو چارو لټون چې ددوی پر سیاسي ګټو بنا وي اړین بولي تر څو د وروستۍ پالیسۍ لپاره زیات سیاسي ملاتړ را مینځ ته شي.

[1] داسې پروګرامونه شته چې تمویلوونکي د افغان دولت د میکانیزمونو له لارې نه بلکه په خپلواکه توګه تمویلوي او لدې کبله د افغان دولت له بودیجې څخه بهر وي.

## ١. سریزه: ولې د پالیسي جوړونې بهیر څیړل کیږي؟

دا توضیحي پاڼه چې د افغانستان د کرنې او کلیو دپراختیا د سکټور د پالیسي جوړونې د بهیر په هکله ده، د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په افغانستان کې د پالیسي جوړونې د بهیر په هکله د څیړنو یوه لړۍ ده.[2] د کرنې او کلیو د پراختیا د سکټور د پالیسي جوړونې بهیر، د ځانګړې اهمیت درلودونکۍ دی. لمړۍ دا چې د افغانستان ډېرئ ښوزله خلک په کلیوالو سیمو کې ژوند کوي. دوهم دا چې د کرنې سکټور ته د راتلونکې اقتصادي ودې لپاره د یو مهم عنصر په سترګه کتل کیږي. همدارنګه ډېر زیات عمومي لاملونه شته چې د پالیسي جوړونې څرنګوالې لپاره د اهمیت وړ دي. د هغو عقیدو پر بنسټ چې د ښې پالیسۍ جوړول او پلې کول د پرمختیا او د جګړې وروسته بیا رغنیزو هڅو لپاره یو مهم عنصر دی نو په افغانستان کې د پالیسي جوړونې لپاره د پام وړ هڅې روانې دي.

مګر یوه ښه پالیسي کومه ده او څرنګه جوړېدای شي؟ د ډېرو په اند یوه ښه پالیسي باید تخنیکي وي او د واقعي شواهدو د بې پرې او بشپړې بیاکتنې او د شواهدو پر بنسټ ولاړو بحثونو له خوا یې ملاتړ شوی وي. پداسې حال کې چې دا شرایط د یوې ښې پالیسۍ جوړونې لپاره اړین دي، مګر د شواهدو او واقعیتونو ټاکنه، وړاندې کونه او تفسیر تل یوه ټاکنیزه او د بحث وړ موضوع ده، نو له همدې کبله تخنیکي ځواکمنتیا غالباً پوښتنې راپاروونکې ده. سر بیره پر دې په افغانستان کې ښه

[2] هغه سیمې چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د پالیسۍ جوړونې برخې د مطالعاتو د ټولګي په وسیله ټاکل شوېدي، د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ د ګډو مسئلو د جوړښت په بنسټ دي.

پالیسي جوړونه تل د نیمګړو معلوماتو او متناقضو معلوماتي سرچینو له کبله له خنډ سره مخ شوېده. سر بیره پر دې هغه ستونزې چې د افغانستان پالیسي په پام کې لري چې په نښه یې کړي، پېچلې، څو ګونې او له یو بل سره اړوندې دي؛ نو لدې کبله د پالیسۍ د ستونزې د ټاکلو او هغوی ته د یوې مناسبې حل لارې د لټولو په وخت کې ډېر مخالفتونه را مینځ ته کیږي.

پالیسي پېچلې او ناڅرګنده درک آسانوي. په حقیقت کې د پالیسۍ مهمه دنده د نا څرګندوالې را کمول دي نو په دې صورت کې د حل لارې رامینځ ته کیدای شي. د حل لارې د پالیسۍ د مفهومونو د رامینځ ته کیدو له لارې پراختیا مومي.[3] نوموړې مفهومونه د هغو وړاندیز شویو حل لارو د تشریح او توجیه لپاره جوړ شوېدي[4]. څرنګه چې لاندې به پرې بحث وشي د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسۍ جوړولو په بهیر کې دا سې درې مفهومونه یا فلسفې شته دي. د یوې پالیسۍ مفهومونه په غالب ډول د عمومي نظرونو، مفکورو، مهمو اصطلاحاتو یا عبارتونو په وسیله په وړاندې ځي، چې "چمتو کونکې استعارې" یې هم بولي، چې معمولاً نا څرګند وي، او د بیلا بیل تفسیرونه ترې کیږي. د "چمتو کوونکې استعارې"[5] یوه ښه بېلګه د "سالمې ادارې" د پالیسۍ فلسفه یا مفکوره ده، چې یو پرمختیایي مفهوم دی، او هر څوک کولای شي، د اصطلاحاتو د ژورې معنی له پوهېدنې پرته یې ملاتړ وکړي، بله بېلګه یې "آزاد بازار" دی.

د پالیسۍ د دغو فلسفو مهمه دنده سیاسي ده چې له دې لارې کولای شي چې د ډیرو ښکیلو اړخونو ملاتړ یا چمتو والی تر لاسه کړي. نو پدې بنسټ هر څومره چې د پالیسۍ فلسفه عمومي او ناڅرګنده وي، د دې احتمال ډېر زیات دی چې ډېرې ډلې به له بیلابیلو اندونو سره د هغه ملاتړ وکړي. نو له دې کبله ښه داده چې په بنسټیز ډول پالیسي جوړونه یوه سیاسي چاره وګڼو. یوه ښه پالیسي باید نه یوازې د تخنیکي اړخه پیاوړې وي بلکې د بیلابیلو لیوالو خواوو قانوني سیاسي ملاتړ درلودونکې هم وي.[6] دا پاڼه د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسي جوړونې په بهیر او د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسۍ د فلسفې په څېړنه کې دا پوښتنه کوي چې آیا د کرنې او کلیو د پراختیا په سکتور کې ښه پالیسۍ جوړه شوېده او که نه؟ نو ولې؟ او له دې بېلګې څه باید زده شي تر څو د غوره پالیسۍ جوړونې لپاره په نورو سکتورونو کې مرسته وکړي؟

په افغانستان کې د پالیسي جوړونې د بهیر او ددې پوښتنې لپاره چې دا پالیسي په چا پورې اړه لري ځانګړې د پام وړ دلیلونه شته. د یوې بریالۍ ملي پالیسۍ جوړونې لپاره هیڅ ډول مخکیني شرطونه: سیاسي، په موخو کې ثبات درلودونکې، تیټ چاپیریالي او سیاسي نا څرګندوالی شتون نه لري.[7] نو پدې توګه د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسي جوړونې په بهیر کې بهرني فعالین باید په پام کې ونیول شي. په هره کچه چې بسپنه ورکونکې د افغانستان په پراختیا کې ونډه لري، په هماغه کچه د پالیسۍ جوړونې په بهیر ژوره اغېزه درلودلای شي. په عمومي ډول د پالیسۍ هغه موډلونه چې د دوه اړخیزه او نړیوالو سازمانونو له خوا کارول شوي دي، نه یوازې د پالیسیو د لارښوونو په ساده کولو کې لېوالتیا لري بلکې د هغه عمومي کول هم غواړي، نو ځکه د پالیسۍ غوره لارښوونې له یو ډول شرایطو څخه اخیستل شوي او په نورو شرایطو کې پلې کیږي[8]. بېلګه یې دا عبارت دی "تر ټولو غوره نړیوال کارونه". چې د افغانستان د پالیسۍ په اسنادو کې ډېر ځله تر سترګو کیږي. یوه انګیرنه چې د پالیسۍ د حل لارې په نړیواله کچه د پلې کیدو وړ دي مګر په افغانستان کې د هغه د سیاسي او پلې کیدو له اړخه باید په پام کې ونیول شي نو په دې توګه به ددې پالیسۍ تخنیکي اړخونه ډېر پیاوړې وي. پر بهرنیو مرستو د افغان دولت د تړاو له کبله دولت د پالیسۍ جوړونې پر بهیر د واک او د هغې د لارښوونې او د مرستو د لیږدولو په پریکړو کې له ستونزو سره مخامخ دی. دا توضیحي پاڼه د کرنې او کلیو د پراختیا پر پالیسۍ د دولت د

---

۳ د پالیسۍ حکایتونه هغه اسانه کوونکې زمینې دي چې په نامعلومو شرایطو کې د نظم ، څرګندوالي او یو والي د رامنځته کولو لپاره جوړېږي. روئی ، د پالیسۍ د تشریح شننه ولولئ. نظر او عمل ،(دورهام او لندن : د دوک د پوهنتون خپرونې، ۱۹۹۴ کال)، ۲ ۴

۴ کارول لي باچي ، ښځې ، پالیسي او سیاست:د پالیسۍ د ستونزې حل کول، لندن او ډیلي : ۱۹۹۹کال)۱ څپرکې.

۵ دیوید موز ، "آیا یوه ښه پالیسي د پلي کولو وړ نده ؟پر قم پېژندنه یوه کتنه، پالیسي او د مرستې عمل ، " پرمختیا او بدلون ۳۵ ،.۴ ګڼه(۱۳۸۲):۲۷۱۲۳۹.

۶ موز، ۲۳۹

۷ روئي، د پالیسۍ د حکایت شننه، ۳۵

۸ جي، فرګوسن، د سیاست ضد ماشین: په لسوتو کې ناسیاسي کول او بروکراتیک ځواک (ماینو پولیس، د ماینو پولیس د پوهنتون خپرونې، ۱۳۲۳)

کنټرول محدودیتونه په ګوته کوي چې دا کار د افغان دولت د پالیسۍ د ملکیت په هکله اساسي پوښتنې را پاروي[۹].

هغه دولتونه چې په لوړه کچه پر بهرنیو مرستو ولاړ دي په اغیزمنه توګه پر مخ نشي تلای، په ځانګړې توګه هغه وخت چې د دولت د حکومت کولو د وړتیا پر وړاندې ژور محدودیتونه موجود وي لکه په افغانستان کې[۱۰]. دغه ستونزې په افغانستان کې د ګڼ شمیر بسپنه ورکوونکو لپاره د یو لاربنود بسپنه ورکونکې[۱۱] د نشتوالي له کبله او دا چې بسپنه ورکوونکې د دولت د بودیجې د کنټرول څخه پرته په خپل سرې[۱۲] توګه مرستې لګوي نور هم ترینګلې کیږي. لکه د دولت د اجندا څخه بهر د پروګرامونو د مالي لګښت برابرول. (داسې اټکل کیږي چې د بهرنیو مرستو دوه دریمه برخه د دولت د کنټرول څخه بهر لګول کیږي).

دغه څېړنه پالیسي د تعریف شویو موخو او د هغو څخه د لاسته راغلو پایلو د ټولګې په توګه تعریفوي چې د عامه سوکالۍ تر نامه لاندې جوړه، تمویل او پلې شوېده. له دې کبله د پالیسۍ جوړونې بهیر هغه دی چې هلته پالیسي تصور کیږي، بحثونه پرې کیږي، ځرګندیږي او بیا رسمي او قانوني بڼه غوره کوي. پالیسي یوازې یو رسمي سند نه دی او داسې باید و نه انګیرل شي چې پالیسي تل په لیکل شوې بڼه وي. همدارنګه پالیسي باید عملي یا پلې کیدونکې بڼه ولري. د پالیسۍ د پلې کیدو او د هغه بیلوالي د موندلو لپاره چې د پالیسۍ د متن او د واقعیت تر مینځ شته، د پالیسۍ پر واقعي مفهوم د پوهیدو لپاره یو ژور پوهاوي ته اړتیا ده. دغه توضیحي پاڼه د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسۍ اجندا او د هغه د بنیادي لیوالتیاوو یو لړ لید وړاندې کوي، د پالیسۍ فلسفه او عملي لارې چارې د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسۍ په رامینځ ته کیدو کې مرسته کوي. د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسي جوړونې د بهیر درک په خپل وار د پای ټکی نه دی، بلکې د لا زیاتې زده کړې، د عملي لارو چارو د اصلاح او بدلون په برخه کې هم مرسته کوي. په عمومي توګه د پالیسۍ د ګرویږنو موخه داده چې"، آسانتیاوې رامنځته کړي نه دا چې د بصیرت درلودونکې سیاسي انتخاب ځای ونیسي"[۱۳]. کوم چې په افغانستان کې د مشارکتي ډیموکراسۍ د جوړولو پراخې اجندا سره اړیکه لري او ټولو ډلو ته پر معلوماتو د لاس رسۍ او د معلوماتو د تشریح لپاره لاره برابروي نو له دې کبله د پالیسۍ په پریکړو کې جدي بحثونه په لاره اچول کیدای شي.

د پالیسۍ پر فلسفو، د پالیسي جوړونې پر بهیر، او د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسۍ پر اجندا د تمرکز له لارې نوموړې پاڼه د پالیسۍ پر منځ پانګه یا پر پالیسي جوړونه منطقي دریځ نه مني. په همدې حال پدې خبره باور چې پالیسي جوړونه په ساده توګه د ځواک په هکله ده، که څه هم چې ځواک د پالیسي جوړونې په دننه کې نغښتی دی. د هغه کسانو د غوره هوډونو ردول چې غواړي د پالیسي جوړونې له لارې یو مثبت بدلون رامینځ ته شي.

نوموړې توضیحي پاڼه لومړی تر هر څه په دوو وزارتونو کې د کرنې او کلیو د پراختیا په اړه د پالیسي جوړونې تاریخ ته بیا کتنه کوي، او وروسته تر هغې د پالیسۍ درې فلسفې چې د کرنې او کلیو پراختیا د پالیسۍ پر بحثونو یې اغیزه درلوده مشخصوي. د نومورو فلسفو، د هغو د منځپانګو، انګیرنو او ادعاګانو درک د کرنې او کلیو د پراخیتا د پالیسۍ د تخنیکي پیاوړتیا د ارزونې او د هغه اندازې د ارزونې لپاره چې په کې سیاسي ملاتړ تر لاسه شوی دی بنسټیز رول لري. د غه توضیحي پاڼه وروسته د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسۍ جوړونې پر بهیر بحث کوي او تر هغې وروسته بیا د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ او د کلیو بیا رغونې او پراختیا په وزارتونو کې د پالیسي جوړونې د ځرنګوالي په هکله پلټنه کوي. د کرهنې اوبولګولو او مالدارۍ د وزارت د ماسټر پلان څیړنه د دې وزارت د پالیسۍ څیړنه ده پداسې حال کې چې نوموړې پاڼې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا په وزارت کې دوه جلاجلا پالیسۍ په ګوته کړې چې عبارت دي له: د سیمې په کچه ملي پراختیایي پروګرام (NABDP) او

۹ د ((بسیج کوونکې)) کلمې یوه بڼه بېلګه چې زیاتره وخت په بېلا بېل مفهومونه ترې اخیستل کیږي.

۱۰ همېش نیکسون، ((له دولت سره مرسته؟))، له افغانستان سره بهرنۍ مرستې او د دولت جوړونې ناسمون، ( د څېړنې او ارزونې اداره، کابل، ۱۳۸۲ کال)

۱۱ ویلیم بېرډ، ((د افغانستان پراختیایي ننګونې ته ځواب ورکول: د ۱۳۸۰ ۱۳۸۲ کلونو د یوې تجربې ارزونه او د راتلونکي لپاره موضوع ګانې او لومړیتوبونه، د SASPR ۱۱ ګڼه راپور، سویلي آسیا، د پریم د مقالو ټولګه))، (نړیوال بانک، واشنګټن، ۱۳۸۲ کال) SASPR ۱۹

۱۲ د دولتي بودیجې څخه بهر د پروژو تمویل چې خپله د بسپنه ورکوونکي لخوا اداره او کنټرول کیږي.

۱۳ فرانک فیشر، د ټولیزې پالیسۍ نوې چوکاټ بندي: استدلالي سیاستونه او مشورتي کړنلارې (آکسفورډ: د پوهنتون خپرونې/ د آکسفورډ پوهنتون، ۱۳۸۲ کال)، ۱۵

دملي پیوستون پروګرام (NSP). دغه توضیحي پاڼه بیا د کرنې او کلیو د پراختیا سکتوری ستراتیژي چې د افغانستان په ملي پراختیایي ستراتیژۍ کې ځای لري تر بحث لاندی نیسي چې د نومړو وزارتونو له خوا مینځ ته راغلې ده. نومړې پاڼه همدا راز دې ټکي ته هم پام اړوي چې د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسي جوړونې بهیر یو ډیر ستونزې جوړونکې او ګډوډ وو او ددې پر ځای چې د هځو له لارې پر مخ ولاړ شي تر څو یوه د پالیسۍ ګډه کیسه را مینځ ته کړي د سیالیو او ردونې له لارې پر مخ روانه ده. چې دا د دولت او د وزارتونو د چال چلند او په خورا ځرګنده توګه د بسپنه ورکونکو د چال چلند په واسطه نور هم پیچلې شوی دی. په پایله کې یې هغه پالیسي چې له تخنیکي اړخه کمزورې او د پالیسۍ د دریو سیالو فلسفو په واسطه، بیلا بیلو لورو ته د شواهدو او بحثونو د په پام کې نیولو سره او له خپلو نیمګړتیاوو سره غځیدلې ده مینځ ته راځي. همدا راز دا د سیاسي ملاتړ په رامینځ ته کولو کې پاتې راغلې ده. نو په دې صورت کې ویلای شو چې د کرنې او کلیو د پراختیا یوه ښه پالیسي نه ده جوړه شوې.

## ۲. "د کلیو سکتور" او د دوو وزارتونو جوړول

د کرنې او کلیو د پراختیا تر نامه لاندې د کرنې او کلیو د پراختیا دا ستونزې جوړونکې بیلوالی ( لکه څرنګه چې د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ په واسطه تعریف شوی ) او که د نه بیلیدونکو برخو پر ځای دا له یو بله بیلې برخو په توګه یې د د پالیسي جوړونې په بهیر کې یې ادامه درلوده د دواړو وزارتونو سازماني تاریخچه یې اغیزمنه کوله. د تاریخي لرغونوالي له پلوه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت[۱۴] ډیر لرغونتوب لري چې د هغه د جوړښت کال د ۱۹۳۰ (۱۳۰۹) کلونه دي او سمهال د کلیو د پراختیا له وزارت څخه لوی دی چې د کارکوونکو شمیر یې اوس مهال له ۱۰۰۰۰ تنو څخه زیات دی. په داسې حال کې چې د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت ۲۰۰۰ کارکوونکو په لرلو سره د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت څخه کشر دی. د لومړي ځل لپاره په ۱۳۳۳ کال[۱۵] کې د سوداګرۍ د وزارت په چوکاټ کې د کلیو د کمیسیون د ریاست په نامه رامنځته شو. دا وزارت له جوړیدو راهیسې د جوړښتي خوځښت، تړل کیدو او بیا جوړیدو له پیښنو ډکه تاریخچه درلودلې ده. په ۱۳۸۱ کال کې د یوه خپلواک وزارت په توګه د ببوزلۍ د کمښت د ودې او په کلیوالي افغانستان کې د ټولنیز خوندیتوب له موخې سره را مینځ ته شو. لکه څرنګه چې وړاندې تر دې یادونه وشوه، په دې هکله چې ولې په دې سکتور کې پالیسي جوړونه د اهمیت وړ ده دوه مهم دلیلونه شتون لري:

د افغانستان ډیری بیوزله خلک په کلیو کې اوسیږي او کرهنه د افغانستان د پراختیا لپاره د یو مهم تولیدي سکتور په توګه ګڼل کیږي. دا دلیلونه همدارنګه د کلیوالي پالیسۍ اړتیا را بر سیره کوي تر څو په کلیوالي سیمو کې د بیوزلۍ د را ټیټولو او تولید تر مینځ اړیکو باندې تمرکز وکړي.[۱۲] که چیرې د کلیوالي سکتور اهمیت د دوو وزارتونو د نسبي کړنو د یوې ارزونې سره په پام کې ونیول شي، نو د دواړو وزارتونو په مینځ کې به د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت تل به د یو ډیر بریالي وزارت په توګه وپیژندل شي. د دغو دواړو وزارتونو د بریالیتوبونو او د هر یوه د پالیسي جوړونې د بهیر تر مینځ بالقوه اړیکې هم د پاملرنې وړ دي.

البته بریالیتوب تل یوه بحث پارونکې ارزونه ده. یو معیار چې ورڅخه ګټه اخیستل شوې د دواړو وزارتونو تر مینځ د مشر تابه توپیرونه او د پالیسي جوړونې د بهیر هغه ځانګړتیاوې دي چې په دغه توضیحي پاڼه کې تر سترګو کیږي[۱۷]، او بل معیار د دواړو وزارتونو د بودیجې اندازه، او ددوی د بودیجې هغه اساسي برخه او هغه برخه ده چې ددولت د بودیجې له کنټرول څخه بهر ده، یا دوزارت د موخو په حدودو کې لګیږي نه د هغه تر کنټرول لاندې. په دې توګه دکلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د کرنې ابو لګولو او مالدارۍ له وزارت څخه ستره بودیجه درلودلې ده (۱ جدول ته ځیر شی)، او همدا راز د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ د

۱۴ د کرنې وزارت ګڼ شمیر نومونه درلودل چې تل یې بدلون موندلی دي د دې مطلب د څرګندوالي لپاره باید ووایو چې اوس د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو د وزارت په نامه یادیږي.

۱۵ د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت... آیا پوهیږئ... ؟ د دې وزارت د تاریخچې لپاره لاندې برښنا پاڼې ته مخه کړئ. http://www.mrrd.gov.af/English/Histort.htm ، د ۱۳۸۷ کال په وریې کې دغې ویب پاڼې ته مراجعه شوېده.

۱۲ ببرد، ((د افغانستان د پرمختګ په مخکې پرتې ننګونې))، ۱۲

۱۷ ببرد، ((د افغانستان د پرمختګ په مخکې پرتې ننګونې))

وزارت په پرتله د خپلې بودیجې د یوې زیاتې برخې د کنټرول واک یې درلود (له ۲۰سلنې څخه زیات). مګر دا تو پیرونه د هغو لارو چارو ښکارندوی دي چې په هغې کې بسپنه ورکوونکې د یوې ضمني پالیسۍ سره چې د وزارت پر کړنو یې اغیزه درلودلې چال چلند کوي.[18]

لومړی جدول: د کلیو د پراختیا او بیارغونې او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ د وزارتونو اصلي او بهرنۍ بودیجه (په میلیون امریکایي ډالرو مصرف شوې ده)

| د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت | | | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت | | | کال |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د عادي بودیجې سلنې | بهرنۍ بودیجه | اصلي بودیجه | داصلي بودیجې سلنې | بهرنۍ بودیجه | اصلي بودیجه | |
| ۹۲,۹ | ۹,۹۷ | ۱۳۲,۶۵ | ۳,۵ | ۱۸,۱۱ | ۰,۵۵ | ۲۰۰۵(۱۳۸٤) |
| ۹۵,۲ | ۱۳,۷۹ | ۲۷٤,٦٦ | ۳۰,۹ | ۳۷,۹٦ | ۱٦,۹٦ | ۲۰۰٦(۱۳۸۵) |
| ٦۵,۵ | ۱۸۱,۹۳ | ۳٤٦,۳۸ | ۹,۳ | ٤٤٦,۲۸ | ٤۵,۷۰ | ۲۰۰۷(۱۳۸٦) |
| ٦۰,۸ | ۳۸۱,٤۳۵ | ۵۹۲,۳۹۷ | ۱۷,۵ | ۲٦٤,۱۷۱ | ۵۵,۸۹۵ | ۲۰۰۸(۱۳۸۷) |

سرچینه: د مالیې وزارت معلوماتي زېرمه

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د پالیسۍ جوړول[19] کیدای شي چې د ۱۳۸۱ کال د ملي پراختیایي کاري چوکاټ[20] او "د افغانستان د کرنې د سکټور د بیارغونې"[21] د برخې په هکله د آسیا د پراختیایي بانک له خوا د تر سره شوې څېړنې لړۍ وي. دغو دواړو سندونو د۱۳۸۲ کال د کرنې د پالیسۍ په تسوید کې ونډه درلوده[22]، چې وروسته بیا پرې غور وشو، او د ۱۳۸۳ کال د کرنې د پالیسۍ په توګه تصویب شوه. د ۱۳۸۴ کال په لومړیو کې د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو وزارت د خپل ماستر پلان[23] په جوړولو پیل وکړ او د هماغه کال په وروستیو کې خپور شو. د ۱۳۸۵ کال راهیسې د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د کرنې او کلیو د پراختیا په سکټوري ستراتیژۍ کې د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ښکیلېدل د مهمې پالیسۍ جوړونه وه.[24]

۱ انځور د ۱۳۸۰ کال څخه وروسته د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو وزارت د پالیسۍ زماني چوکاټ:

۱۳۸۱: د افغانستان د مالدارۍ او کرنې د پراختیا ستراتیژي (مسوده)

۱۳۸۲: د افغانستان د کرنې د سکټور بیارغونه (د آسیا پراختیایي بانک)

۱۳۸۳: د افغانستان د طبیعي سرچینو او د کرنې د سکټور د بیارغونې لپاره د پالیسۍ او ستراتیژۍ کاري چوکاټ (د ۱۳۸۲ کال په سلواغه کې تسوید شوی، او د ۱۳۸۳ کال د غبرګولې په میاشت کې تصویب شوه)

۱۳۸۴: د ۱۳۸۴ کال ماستر پلان

۱۳۸۶: د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ لپاره د کرنې ستراتیژي (۱۳۸۵ کال د کب ۲۸)

۱۳۸۶: پروګرامونه او ماسټرپلان: د پلې کولو او پانګې اچونې پلانونه (۱۳۸۶)

۱۳۸۸: د ۱۳۸۸ کال د کرنې د ملي پراختیتا کاري چوکاټ

۱۸ جاناتان، ګودهند او مارک سیدرا، ((بډې یا چنې وهل، مشروطه سوله او په افغانستان کې د بحران څخه وروسته بیارغونه))، د نړیوالې سولې ساتل، ۱۴، ۱ ګڼه، (۱۳۸۲) ۴۱۲۱

۱۹ د وخت د محدودیت له امله اوسنۍ څېړنه نشي کولای د کرنې د ملي پراختیا چوکاټ او د هغه اړوندې چارې (کرنیز تولید او تولیدي پروګرام، د اقتصادي بیارغونې پروګرام، د طبیعي سرچینو د مدیریت د بدلون پروګرام، د عامه سکټور د پرمختیا د پروګرامونو د ملاتړ پروګرام)، تر څېړنې لاندې ونیسي. دا اسناد د ۲۰۰۹ کال په اپریل کې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت لخوا تسوید شویدي.

۲۰ د افغانستان انتقالي اداره، د ملي پرمختیا چوکاټ، د مشاورې لپاره تسوید، (کابل، ۱۳۸۰ کال)

۲۱ ((د آسیا پرمختیایي بانک))، ((د کرنې د سکټور بیارغونه))، (د آسیا پرمختیایي بانک، د سویلي آسیا څانګه، ۱۳۸۱ کال، مانیلا)

۲۲ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د افغانستان د طبیعي سرچینو سکټور، د کرنې او تولید د مدیریت جوړول او د طبیعي سرچینو څخه د افغانستان د ټولنیز او اقتصادي پرمختیا لپاره د انجن په توګه تلپاتې ګټه اخیستل. د طبیعي سرچینو او کرنې د سکټور د بیارغونې او پرمختګ لپاره د ستراتېژۍ چوکاټ او پالیسي، (کابل، د کرنې، اوبو لګولو او خوړو وزارت (MAAHF)، ۱۳۸۱ کال.

۲۳ د ۱۳۸۲ کال د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د پالیسۍ سره سم وزیر هماغه وخت د تمویلوونکو څخه مرسته وغوښته، ۲ تمویلوونکو موافقه وکړه تر څو د وزارت د ماسټر پلان په جوړولو کې چې پانګونې ته لارښوونه کوي، مرسته وکړي. دغه ۲ مرستندویان عبارت دي له: نړیوال بانک، د آسیا پرمختیایي بانک، د جاپان د نړیوالې همکارۍ اداره، اروپایي کمیسیون، د نړیوالې پرمختیا لپاره د برتانیا اداره.

۲۴ ۱۳۹۱۱۳۷۸ کال پورې د کرنې او کلیو د پرمختیا ستراتېژي، د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتېژي، کابل: افغان دولت، ۲۰۰۸، د افغانستان ملي پراختیایي ستراتېژي، ۲۰۰۸

د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو د وزارت د پالیسۍ جوړولو په اړه کولای شو ګڼ شمېر ټکو ته پاملرنه وکړو. لمړی د بهرنیو اغیزو شتون، چې پالیسي به نیغه د بهرنیو سلاکارانو ( لکه د اسیا د پراختیایي بانک د ۱۳۸۲ کال سکتوری ارزونه) او یا د هغو سلاکارانو له خوا چې په وزارت کې شتون لري لیکل شوې ( لکه چې د ماسټر پلان په اړه همدا قضیه موجوده وه). دغو سلاکارانو او شنونکو په ډول ډول لارو چارو د کرهنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د پالیسۍ د مینځ پانګې په اړه یې پریکړه کړې او د هغې لاربنوونه یې په غاړه درلوده. همدا راز د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د ښکیلو بسپنه ورنکو تر مینځ د نظر ستر توپیر شتون درلود. همدې سره اړوند د امریکې د متحدو ایالتونو نړیواله پراختیایي اداره(USAID) دسترو بسپنه ورکوونکو له دلې څخه ده چې په بشپړه توګه د دولت د بودیجې د کنټرول څخه بهر او په خپلواکه توګه پروګرامونه پلې کوي، په داسې حال کې چې د پروژې دفترونه د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ په وزارت کې موجود دي.[۲۵] د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د ټولې بودیجې زیاته برخه ( چې د دولت د بودیجوي کنټرول څخه بهرده ) د امریکې د متحدو ایالتونو د نړیوالې پراختیایي ادارې همدغه مالي مرستې جوړوي. په عمومي ډول د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ په وزارت کې پالیسي جوړونه تر سره شوه مګر ډیره وروه وه او ددې پر ځای چې د پروګرامونو د پلي کېدو لامل شي ، د کاغذ پرمخ پاتې ده.

د کلیو د پراختیا او بیارغونې د وزارت د پالیسۍ د اجنډا پرمختیا یوه نسبتاً بیله لاره تعقیب کړې ده. چې دا د ددغو دوو وزارتونو د اختیاراتو تر مینځ د توپیر ښکارندوی دی، او همدارنګه د هغو توپیر لرونکو پروګرامونو جوړښت ښیي چې دواړو وزارتونو پلې کړیدي. د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت دا ښه والی درلود چې خپل ټول کارونه له پخوانیو را پاتې اداري میراثونو یا د کارکوونکوله زیاتوالې پرته چې د کرنې، اوبو لګولو اومالدارۍ وزارت یې لري خپل پروګرامونه یې د ۱۳۸۰ کال څخه وروسته په روښانه توګه پیل کړه. سر بېره پر دې د کلیو د پراختیا او بیارغونې د وزارت ټولې کړنې ډیرې څرګندې دي او زیاتره د عامه توکو پر لیږد او تخنیکي اقداماتو تمرکز لري او جوړښتي بیوزلي یې په نښه کړې لکه لارو ، د اوبو زیرمو، ښوونځیو او داسې نورو ته ښه لاسرسی.

هغه څه چې د کلیو د بیارغونې او پراختیا په وزارت کې تر سره شوې دي دا دي چې دا وزارت د خپلې بودیجې په برخه کې په داسې توګه کنترول لري او دخپلو پلو شوو پروګرامونو له لارې د هغې لاربښوونه کوي چې دا هغه څه دي چې د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ په وزارت کې نه دي پيښ شوې. لکه څرنګه چې په ۲ انځور کې لیدل کېږي، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت یواځې دوې پالیسۍ یې تسوید کړې دي چې د پالیسۍ زیاتره منځ پانګه او د هغې تمرکز د هغه وزارت په بحثونو او د ځانګړو پروګرامونو د پلې کېدو له لارې خورا څرګند دي.

د بېلګې په توګه د ملي پیوستون پروګرام، دیو پروګرام جوړښت او د پلې کولو بڼه یې وړاندې کړه چې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د وزیر د نظرونو سره برابرو وو او وزارت ددې اړتیا لیدله چې د پروګرام د په نیغه پلې کولو کې ونډه ونه لري.[۲۶] او د هغه پر ځاي د پالیسۍ پر څرنګوالې، د پروګرامونو پر څارنه او ارزونه، او د خپلو همکارانو سره د پروګرامونو د پلې کولو په موخه د ټرونونو پر لاسلیک کولو تمرکز وکړې چې د ملي پیوستون په برخه کې نوموړې همکاران نا دولتي ملي او نړیوال سازمانونه وو. د وزارت دغې کړنې دهغه وزارت د کارکوونکو د شمېر په کمولو ( یوه پر دریمه برخه چې دخپلو کارکونکو شمیر یې ۲۰۰۰ کسانو ته را ټیټ کړ) او د پورته نه تر کښته کچې پر کیفیت دخورا تمرکز درلودلو سره نور هم پیاوړی شو او دا کار ددې وزارت په کلتور او کړنو کې د یو بدلون لامل وګرځید.[۲۷]

لکه چې یو بهرني څارونکي یادونه کړې:[۲۸] ، ډېر ژر روښانه شوه چې د کلیو د بیارغونې او پراختیا په وزارت کې د پالیسۍ جوړونه په داسې توګه پیل شوه چې بسپنه ورکونکې یې وهڅول چې ددغې

۲۵ د بېلګې په توګه کولای شو چې د کرنېد مارکیټ د بیا جوړولو پروګرام او د کرنې د چټکې باثبات کونې پروګرام ته اشاره وکړو

۲۶ خبري مرکه، ( رسمي، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت)، پیرز، کوم. د ۱۳۸۲ کال د اګست ۲۴. د معلوماتو د بشپړ نوملړ لپاره آدم پین او سید محمد شاه ته رجوع وکړئ، (( په افغانستان کې د کرنې او کلیو د پراختیا په برخه کې پالیسي جوړونه ) ) ، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۹، ۱۰

۲۷ خبري مرکه، ( رسمي، د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت)، پیرز، کام، د ۱۳۸۲ د سلواغې ۲

۲۸ خبري مرکه، ( د یوه نړیوال سازمان سلاکار ) ، پیرز، کوم، د ۱۳۸۲ د زمري ۹

وزارت د اجندا سره سم او د هغه سره یوځای کار وکړي نه د هغه څخه بیل او یا دهغه پر ضد. په داسې حال کې چې په لومړي سر کې د ملي پروګرامونو د مدیریت سره په دې توګه تړون شوی وو څو د سلاکارانو څخه څارنه وکړي د بیلګې په توګه د ملي پیوستون په لومړي پړاو کې دغه پروګرام د یوه آلماني څارونکې سلاکار لخوا اداره کېده. خو وروسته له هغه چې د وزارت ظرفیت لوړ شو، نو په خپله بودیجه یې زیات کنټرول وموند. د ملي پیوستون او د ملي سیمه ایز پراختیایي پروګرام په دوهم پړاو کې دهغه د مدیریت چارې د وزارت په غاړه وې.

د پروګرامونو د اداري او د بودیجې په برخه کې د کلیو د بیارغونې او پراختیا د وزارت تدریجي کنټرول د پروګرام پر محتوی او لارښوونه دنوموړي وزارت د صلاحیت زیاتوالې څرګندونه کوي. داسې ښکاري چې د کلیو د پراختیا او بیارغونې

وزارت لپاره ۱۳۸۱ کال یو ښه پیل وو څکه دوی وکړای شو چې سیاسي ملاتړ تر لاسه کړي او د تر سره شویو کړنو له لارې پالیسي را منځ ته شوه او بسپنه ورکوونکو په ډله ایزه توګه یې له هغې څخه خپل ملاتړ څرګند کړ. اوس مهمه پوښتنه داده چې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت او د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د بیلا بیلو سازماني تاریخونو په درلودلو، د پالیسۍ د پایلو او د بسپنه ورکوونکو د ښکیلیدو ماهیت سره څرنګه د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسۍ په جوړونه او محتوی کې انعکاس موندلی دی؟ دا مسئله په لاندې توګه، د پالیسۍ د مهمو فلسفو د پلټنې د څرګندیدو له لارې چې په دغو دوو وزارتونو کې را منځ ته شوې، سپړل کېږي.

۲ انځور. د کلیو د پراختیا او بیارغونې د وزارت ملي پروګرامونه او پالیسۍ

| بشپړ عنوان | لنډ نوم |
|---|---|
| ملي پروګرامونه | |
| NABDP | ملي سیمه ایز پراختیایي پروګرام، لمړی پړاو (۱۳۸۱) ، دوهم پړاو (۱۳۸۴) |
| WATSAN | د کلیو د اوبو د زیرمو او د روغتیا ساتنې پروګرام، (۱۳۸۱) |
| NRAP | د بېړنۍ ګمارنې ملي پروګرام NEEP (۱۳۸۱) ، کلیوالي سیمو ته د لاسرسۍ ملي پروګرام (۱۳۸۴) |
| NSP | د ملي پیوستون پروګرام (۱۳۸۲) |
| MISFA | د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونو د پانګې اچونې د اسانتیاوو ملاتړ، (۱۳۸۲) |
| AREDP | د افغانستان د کلیو سوداګریز پراختیایي پروګرام، (۱۳۸۷) |
| د پالیسۍ طرحې | |
| د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت | د ۱۳۸۱-۱۳۸۵ کلونو ستراتېژیک پلان (۲۰۰۲) |
| د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت | د ۱۳۸۲-۱۳۸۸ لپاره یوه ستراتېژیکه موخه (۲۰۰۷) |

# ۳. د کرنې او کليو د پراختيا په اړه د پالیسۍ درې فلسفې

د پالیسۍ درې ببلا ببلې فلسفې هغه درې بېلې بنسټيزې ستونزې چې د افغانستان د کرنې او د کليو د پراختيا په برخه کې شته تشريح کوي چې کيداى شي د کليو د پراختيا د پالیسۍ جوړونې د بهير په حسابونو او اسنادو کې ومونډل شي. چې هرکوم د يو ځانګړې ستونزې دحل او ددې په اړه چې د افغانستان د کرنې او کليو د پراختيا په برخه کې پاليسي بايد څه پلې کړي د نسبتاً بيلو موقفونو څرګندونه کوي.

دې ټولو ته د پالیسۍ په اړه د هر ډول خبرو اترو څخه وړاندې، ښه ورکړل شوې او مينځ ته راغلې او د بيلا بيلو پاليسيو تاريخ ته په کتنې سره او دهغوې د غوښتنې سره سم توجيه شوې دي. او همدا راز په ۱۳۸۰ کال کې د افغانستان د کليوالي اقتصاد په برخه کې يې ګډ موقف درلود. د پالیسۍ دغه درې فلسفې کېداى شي په توليدونکې ، پراختيا ور کوونکې او بازار هڅوونکې ووېشو. له دغو دريو فلسفو څخه هر يو يې خپل ځانګړې پلويان لري د توليدونکې لپاره هغه ستونزه چې بايد د کرنې او کليو پراختيا ورته پاملرنه وکړي، د ۱۳۵۷ کال څخه راهيسي د کرنيزو محصولاتو کموالى دى او د حل لاره يې د توليد زيات والى دى. د پراختياورکوونکې لپاره ستونزه د عامه توکو او د ټولينزو اداري جوړښتونو نشتوالى دى، چې د حل لاره يې د داسي يوچاپېريال رامنځته کول دي چې وکولاى شي د بدل شوي کليوالي اقتصاد ملاتړ وکړي. په پاى کې د بازار هڅوونکې فلسفې پلويانو لپاره بنسټيزه ستونزه نړيوالې غوښتنې ته د ځواب ويونکې، فعال آزاد بازار نشتوالى دى.

د افغانستان کليوالي سيمې د يوې زمينې په توګه رول لوبوي تر څو دا معلومه کړي چې په ۱۳۸۰ کال کې څرنګه کرهنيز او کليوالي سکټور ويجاړ شوى دى. خو هر يو دغه انګيرل شوې ويجاړۍ په بيلا بيله توګه تعبيروي تر څو خپلې فلسفې په مناسبه توګه وکاروي.

د پالیسۍ ددرې بيلا بيلو کيسو په توګه ددغه فلسفو وړاندې کونه کې ، اوسنۍ رپوټ دا نه وايي چې د دغو بېلابېلو حکايتونو په مينځ کې هېڅ ورته والى يا هم د نظر شريکوالى نشته. دغه ټولې فلسفې ترېوې کچې د کليو د باالقوه پراختيا د اجنډا پر بېلابېلا اړخونو ټينګار کوي او هغه څه چې بايد ورته ځانګړې پاملرنه وشي، دا دي چې هره فلسفه د يوې هر اړخيزې او معقولې بېلګې څرګندونه کوي چې هريو د بريا بيلا بيل شاخصونه يا نښې لري. د دغو فلسفو د هر يوه د، جوړيدو، منځپانګې او دفاع پر څرنګوالي پوهېدل د کليو او کرنې د سکتور د پراختيا د پالیسۍ جوړولو د بهير د اړوندو بحثونو د ماهيت د پوهاوي لپاره خورا ارزښت لري.

## د پالیسۍ د ستونزو معلومول

دغه درې فلسفې تر ۱۳۸۰ کال پورې د وچکالۍ او جګړو په کلونو کې د کليو د اقتصاد او کرنې د سکتور د زيانمن کېدو په اړه ګډې کيسې يا خيالي بنسټونه مني. که څه هم چې هر يوه فلسفه ددغه ګډ تاريخي لرليد څخه يوه بيله ستونزه مومي. دغه مسئله هغه اړخونه څرګندوي چې ددغو داستانونو پر جوړولو د ټينګار او د پالیسۍ د هغو حل لارو لپاره چې دوى يې د وړاندې کولو هيله لري ټاکل شوي دي. د کرنې او کليو د سکټورونو وضعيت ته په پام سره د ويجاړۍ او له مينځه تللو په اړه دغه ليد په پراخه توګه منل شوى او يو مسلم واقعيت ګڼل کيږي. د کرنې او کليو د پراختيا د سکتور په وروستۍ ستراتيژي[۲۹] کې د طبيعي ناورين تاريخ او همدارنګه د کرنيزو سيمو، توليداتو او د ژوو د شمېر په اړه داحصاييو کموالۍ هم برخه لري. او د۱۳۵۷ او ۱۳۸۳ کلونو تر مينځ د غلودانو په توليد کې د ۳،۵ سلنۍ اوږد مهاله کموالي ته ګوته نيسي، البته په عمومي توګه د ۱۳۷۰ کال څخه تر ۱۳۷۲ کال کې د وچکالۍ تر راتګ پورې د توليداتو پر زياتوالې سترګې پټې شوې دي. او همدارنګه په ۱۳۸۲ کال کې د غنمو د توليد زياتوالې ته هم پاملرنه نده شوې. هغه ځانګړتياوې چې د متحده ايالاتو نړيوالې پراختيايي اداري[۳۰] د کرنې د سکتور

۲۹ د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ په سند کې د کرنې او کليو دپراختيا د سکتور ستراتيژي ۷ مخ ته پاملرنه وکړي

۳۰ انتوني فيتزربرت، (( د افغانستان د کرنې په ډګر کې د بيړني بدلون او د ژوندانه د تنوع زمينه: آدم پين او جکي ساټن ۴۸ ۲۹ ( راګبي ، برتانيا: د خوړو او کرنې نړيوال سازمان او عملي هڅې، ۱۳۸۷ ).

په اړه د خپل د **۱۳۸۵** کال وړانديز شوې پروژې په سند کې يادې کړې دي، د دغه سکتور د يوه خيالي بنسټ د توصيف يوه بېلګه ده. (۱ چوکاټ ته پاملرنه وکړئ )

د افغانستان د کليو د اوسني وضعيت او تاريخچې په اړوند زياتره فرضيې کېداي شي د جدي ننګونو سره مخ شي. لکه چې د افغانستان د کرنيز اقتصاد اوږدمهال څارونکې يادونه کړې،

په افغانستان کې د کرنې او کرنيز اقتصاد په اړه نظرونه ديو لړ کلکو عقيدو له لارې چې ډېرې ساده، پخوانۍ، ناپوهه يا دا چې د کرنې د سکتور په اصلاح او بدلون کې د دولت او بهرنيو مرستندويه سازمانونو رول ته له حده زيات ارزښت ورکولو پر بنسټ ولاړ دي[31]

دغه څارونکې په ځانګړې توګه د کرنې د سکټور د زيانمن کېدو د انګيرنو او د موجودو کرنيزو تخمونو په کمېدو نيوکه کوي او د ۱۳۸۲ کال د غلو دانو حاصلاتوثبت ته په ګوتنيوي يادونه کوي چې د ټولو کرهنيزو تخمونو څخه يواځې ۴ سلنې تخمونه چې د ملاتړ کوونکو سازمانو لخوا بزګرانو ته د مرستې په ډول ورکړل شوې دي کرل شوې دي[32]. ليکونکې وروسته انګيرنه تر پوښتنې لاندې راولي چې د افغانستان زياتې کليوالې سيمې وړې کرهنيزې ځمکې او په هغو پورې تړلې کورنۍ[33] جوړوي چې د ۱۹۷۰ کلونو څخه وروسته کابو په يوه ډول پاتې دي. نوموړې مدعي دی چې په ۱۹۹۰ لسيزه کې د آبي غنمو تر کښت لاندې ځمکو منځنې حاصلات د ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ لسيزو د حاصلاتو په پرتله زيات وو.

په همدې توګه دا په ښه توګه څرګنده ده چې افغانستان پر مرسته شويو خوراکي توکو ولاړ هېواد دی. شواهد څرګندوي چې په سيستماټيک ډول د واردېدونکو سوداګريزو غنمو ونډه کم

**۱ چوکاټ. د کليو او کرنې د پراختيا لپاره د لارې او ارول**

دې ته په پام سره چې د هېواد په سلو کې ۸۰ برخه وګړې په کليوالو سيمو کې ژوند کوي او لږ تر لږه د دوی د معيشت يوه برخه له کرنې او د کرنېزو خدمتونو له لارې تامينيږي ، کرهنه د افغانستان د ارزښتناکو سکټورونو څخه ګڼل کيږي. دوې لسيزې جګړې او ورسره ځو کلنې پرله پسې وچکالۍ د هېواد د کرنيز اقتصاد د له منځه تلو لاملونه دي او له همدې امله د اوبو لګولو د سيسټمونو او سړکونو په ګډون د کليو بېخبناوې ندي رغول شوې، د تخنيکي او اداري متخصصينو له هېواده وتل، له بله پلوه ځېړنيز او پراختيايي سيستمونه هم له کاره لويدلې دي. برسېره پردې دځو لسيزو راهيسې له نويو کرهنيزو ټکنالوژيو څخه ګټه نده اخيستل شوې. د کرنيزو محصولاتو اصلاح شوې ډولونه دنويو ناروغيو له کبله له منځه تللي او د حاصلاتو وړتيا يې له لاسه ورکړې ده. او په کليو کې مالي سيستمونه هيڅ شتون نه لري. په افغانستان کې د خوراکي توکو د توليد ظرفيت زيانمن شوی او بزګران بېوزله شوې دي. هغه هېواد چې يو وخت يې پياوړی او شتمن کرنيز سکټور درلود چې د ملي عايداتو کابو ۸۰ سلنې يې جوړوله، اوس په ژوره توګه هغو خوراکي مرستو پوري تړلی دی چې د نړيوالو بسپنه ورکونکو لخوا د مرستې په ډول ورکول کيږي.

ارزښته ده او د ځو پرله پسې کلونو وچکالۍ او سياسي بې ثباتۍ سره سره د غلو دانو مارکېټ خپلې چارې رواني ساتلې دي[34]. واقعيت دا دی چې خوراکي مرستو د خوړو په چمتو کولو کې لږ رول درلودلی. او د ۱۳۷۸ څخه تر ۱۳۸۳ کلونو پورې يې يواځې ۸ سلنې اړتياوې پوره کړې دي[35].

د شواهدو سره سره د کليوالي اقتصاد د وضعيت په اړه هغه مهم باورونه لکه **۲۵** کلنې ورانوونکې اغېزې ، پر خوراکي مرستو تړاو ، د خوړو د توليد په توګه د خوړو خونديتوب او دا چې په سلو کې د **۸۰** څخه تر**۸۵** کليوالي وګړې پر کرنه تکيه لري دا هغه

۳۱ هغه فرضيه چې بيا ځل په ۱۳۸۷ کال کې بيان شوه. د جاناتان بورج اثر (( د کرهنيز تخم کموالی افغان کروندګرو ته زيان رسوي)) ولولئ، رويټرز د ۱۳۸۷ د ليندۍ ۱۲ http://www.alertnet.org/thenews/ htm.newsdesk/ISL۳۹۲۳۵۲

۳۲ د زياتو مالوماتو لپاره د کمې ځمکې لروونکي بزګر د غلط باور په اړه، د يان کريستوپولس اثر (( د افغانستان په کرنيزو مداخلاتو کې د بيا رغونې فلسفه )) ولولئ. په افغانستان کې د کرنې په بيارغونه کې ۱۸۸ ۱۲۵

۳۳ اندريو پيني او اسکات راچيني، (( په افغانستان کې د خوړو خونديتوب )) په افغانستان کې د کرنې بيا رغونه ، ۱۲۴۱۱۹

۳۴ پيني او اسکاټ راچيني، (( په افغانستان کې د خوړو خونديتوب ))۱۳۸

۳۵ د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ اړوند د کليو او کرنې د سکټور د پرمختيا ستراتېژي، ۱۲ د افغانستان دولت

کلک خیالونه دي چې د کرنې د پالیسۍ زیات اسناد یې د ۱۳۸۰ څخه وروسته خپل ځان ته ځانګړې کړې دي. د پالیسۍ دریو اړه فلسفې په برابر ډول د دغو خیالونو ملاتړ کوي او دا یې د کرنې او کلیو د پراختیا په سکتورونو کې نه انکار کېدونکی حقیقت ګڼلی دی، چې له همدې څخه خپل د پالیسۍ موقف جوړوي. هغه څه چې دغه تاریخي شرایط یې څرګندوي د افغانستان د کلیوالي بېوزلۍ د بېلابېلو اړخونو د پوهاوي لپاره د شننو نشتوالی، سره له هغې پاملرنې سره چې د پالیسۍ د غبرګون د توجیه لپاره د موضعګانو د رامنځ ته کولو لپاره شوی. په دې توګه، پالیسي د شرایطو څخه جلا شوې ده. سره له دې په هغه ډول چې د ویجاړېدو دغه عمومي کیسه په دریو بیلا بیلو ډولونو تفسیر شوې تر څو د پالیسۍ په فلسفه په هغه ډول چې باید عمل وکړي نفوذ ولري.

## تولیدونکې فلسفه

په تولیدونکې فلسفه کې، چې په ځانګړې توګه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له خوا کارول کېږي، د کرهنیزو محصولاتو په خرابېدو او په هغه حقیقت باندې چې له ۸۰ څخه تر ۸۵ سلنه افغانان کرهنې پورې تړلي دي، تاریخي تینګار شوی دی. هغه مهمې مسالې یا ستونزې چې د دغه فلسفې د پلویانو لپاره ارزښتناکه دي، د محصولاتو نشتوالی او هغه حقیقت دی چې محصولات د خوړو د خوندیتوب لپاره خورا ارزښتناک بلل کېږي. د دغې ستونزې لپاره د حل لاره دا ده چې افغانستان بیا خپل پخواني مقام ته ورسیږي: کله چې د کلیو اوسېدونکې یې په کرهنیزو چارو بوخت او د کرهنیزو محصولاتو د تولید له پلوه په ځان بسیا وو. دا هغه فلسفه ده چې د هغه مهم رول د بیا رغونې اهمیت ته ګوته نیسي چې د کرنې وزارت د کرنې د پراختیا په برخه کې یې پخوا لوبولی وو. د دغه موقف لپاره لازم شواهد په دوو سرچینو کې موندلی شو: د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د پالیسۍ په متنونو او هغه لارې چارې چې د پالیسۍ د بهیر په اړوند د دغه وزارت د رسمي کارکوونکو خپل نظریات څرګند کړې وو. پخوانیو ټکو ته په پام سره د تولیدونکو تګ کرښه کیدای شي د آسیا پراختیایي بانک د ۱۳۸۲ کال[۳۶] د سکتوري

۳۶ د آسیا پراختیایي بانک (( د افغانستان د کرنې د سکتور بیارغونه)) اثر ولولی. ۲۱ چې وایي: ((که د سیمې د نورو هېوادونو سره د تولید برابره کچه ورغول شي، افغانستان باید د خوړو د خوندیتوب په اړه خپلې منځمهالې او اوږدمهالې ستونزې حل کړي... )) برسېره پردې دغه څېړنه

ستراتیژۍ او د ۱۳۸۳ کال د پالیسی او ستراتیژۍ له کاري چوکاټ[۳۷]. د کرنې او کلیو د پراختیا د سترا تیژۍ لپاره د کلیو او کرنې د پراختیا[۳۸] د سکتور د ۱۳۸۷ کال وروستۍ ستراتیژۍ له لارې چې دا سې څرګندوي: "ستراتېژیکه موخه دا ده چې د اړو بزګرانو لپاره د ملاتړ میکانیزمونه جوړ کړو تر څو د غلودانو د تولید او مالدارۍ د تنوع له لارې د خوړو خوندیتوب تامین کړې څو د تولید د زیاتوالي لامل شي." په حقیقت کې د کرنې او کلیو د پراختیا د سکتور ستراتیژۍ د لاسته راوړنو په ارزونه کې زیات شاخصونه چې د بریالیتوب او پرمختګ د اندازه کولو لپاره ترې ګټه اخیستل شوې په پراخه کچه د تولیدي فلسفې د بریالیتوب مدعي وو. لکه د تولید د کچې زیاتوالی، د روغتیایي او وترنرۍ خدمتونو دوراندې کولو زیاتوالی، د اصلاح شویو تخمونو د تولید او د بزګرانو د سازمانونو د مینځ ته راتللو[۳۹].

د وزارت د کار کوونکو د نظریاتو ته په پام سره چې زیاتره یې په خصوصي ډول یې د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ په وزارت کې د پالیسي جوړونې د کلي تمرکز او هغه لورې ته چې دوی احساس کاوه چې ورته یې لارښوونه شوې، په اړه تر دید څرګند کړی وو. یو کس پدې باور ؤ چې د کم ګړندیتوب لرونکی بهیر اړین دی[۴۰]؛ یوه تلپاتې موضوع هغه د وزارت پخواني رول ته اشاره وه چې هغه توانیدلی ؤ خپله دنده په ښه توګه پرځای کړي. او د یو شمیر کسانو[۴۱] نظر دا ؤ چې وزارت باید د پلې کولو په برخه کې زیات رول ولوبوي او همدارنګه دا مسئولیت لري چې د خلکو خوراکي اړتیاوې پوره کړي. د دوي نظر دا ؤ چې لاتر اوسه ډېر وختې دی چې د خصوصي برخې د سیالیو پر بنسټ آزاد اقتصاد رامنځته شي هغه څه چې مرستندویانو د هغه ملاتړ کاوه[۴۲] او افغانستان

بیانوي چې ، باید په منځ مهال کې د غلو دانو په اړه په خپله بسیاینه ډېر ټینګار وشي،د ۲۵ تېرو کلونو راپاتې میراثونو په پام کې نیولو سره ډېرې کورنۍ نشي کولاي خپلې اړتیاوې پوره کړي.

۳۷ د افغانستان په ملي پرمختیایي ستراتیژۍ پورې اړوند د کرنې او کلیو د سکتور د پراختیا ستراتیژي، د افغانستان دولت ،۱۲.

۳۸ د افغانستان په ملي پراختیایي ستراتیژۍ پورې اړوند د کرنې او کلیو د سکتور د پراختیا ستراتیژي، د افغانستان دولت ،۱۲

۳۹ خبري مرکه، (رسمي، د کرنې اوبو لګول او مالداری وزارت)، پېز کوم، د ۱۳۸۲ د زمري ۱۲

۴۰ خبري مرکه، (رسمي، د کرنې اوبو لګولو او مالداری وزارت)، پېز کوم، د ۱۳۸۲ د زمري ۱۵، او خبري مرکه، (رسمي، د کرنې وزارت)، پېز کوم، د ۱۳۸۲ د مرغومي ۴

۴۱ خبري مرکه ، ( رسمي ، د کرنې اوبولګولو او مالداري وزارت ) پيېرز. کوم ، د ۱۳۸۲ د زمري ۱۷ مه

۴۲ دغه نظریه د روان غالب چلند سره همغږې ده چې د کلیو ژوند د کرنې څخه جلا شوی دی.. د جاناتن ریګ اثر

د يوه آزاد اقتصاد لپاره تياری نه درلودچې د دوی په اند آزاد اقتصاد د زياتې نابرابرۍ لامل کيږي.

د پاليسۍ د توليدونکې فلسفې پخوانۍ کړنلارې ته په پاملرنې سره، توليدي فلسفه په پراخه کچه نه غواړي ومني چې د کليو وضعيت بنايي له ۱۳۵۲ کال[۴۳] څخه تر اوسه بدلون موندلی وي او د کليو په اقتصاد کې بدلونونه په رسميت نه پيژني. په افغانستان کې د کليو زياتې سيمې يواځې د خپل ژوند د اړتياوو کوچنۍ برخه د کرهنې څخه لاس ته راوړي، او زياتره کليوالي کورنۍ خپلې غلې دانې له بازارونو څخه پوره کوي او د خپلو د عايداتو زياته برخه د غير کرهنيزو سر چينو څخه لاس ته راوړي، برسېره پردې ، د کليو زياتره بېوزله خلک بې ځمکې دي. په همدې توګه بازار د افغانستان په کرهنيز اقتصاد کې مهم رول لوبوي د بېلګې په توګه کېدای شي ترياکو رول ته اشاره وکړو او هغه کتنې چې په حقيقت کې وزارت نشي کولای د کليو په اقتصاد کې ګټور رول لوبونکی وي، د توليدونکې فلسفې سره سمون نه لري.

## پراختيا ورکونکې فلسفه

دويم پراختيا ورکونکې فلسفه د تمويلوونکو د نظر د يووالې ملاتړ کوي چې سالمې ادارې ته پر اړتيا ، د خصوصي سکتور تر مشرۍ لاندې په پرمختګ ،ودې او د بېوزلۍ په راټيټولو ټينګار کوي. دپاليسۍ هغه تاريخ چې دغه فلسفه يې وړاندې کوي د مقايسې وړ دی او يواځې افغانستان ته ځانګړې نه دی. دکليوالي بېوزلۍ سره د مبارزې په موخه وړانديز کوي چې د سالمې ادارې د رامنځته کولو له لارې داسې چاپېريال جوړ شي ترڅو د عامه خدمتونو لپاره پانګونه وشي او همدارنګه د بېوزلو په ګټه پانګونه او د بېوزلو لپاره پروګرامونه بايد دوی ددې وړ وګرځوي څو د ژوندانه په پړيکړو کې برخه واخلي او په دې توګه د سوکالۍ لامل شي. چې په پراخه توګه دداسې فرصتونو په رامنځته کولو تمرکز کوي چې د هغو پر بنسټ بېوزله خلک وکولای شي خپل برخليک د نا برابرۍ جوړښتونو ته د لږې پاملرنې سره چې په لومړي سر کې د بېوزلۍ د رامينځ ته کيدو لامل کيږي، وټاکي. دغه فلسفه د وزارت د يو شمېر کارکوونکو او د يوه څخه پرته د نورو ټولو هغو تمويلونکو لخوا چې د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ په وزارت کې فعاليت کوي، د تائيد وړ وګرځېد او په ظاهر کې دغه ډول موضع د کليو د پراختيا او بيارغونې وزارت په ټولو پروګرامونو کې هم شتون لري.

پرمختيا ورکونکې فلسفه پدې هڅه کې ده چې په لنډمهال کې په کليوالي سيمو کې د مثبت بدلون لامل شي[۴۴]. د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د ۱۳۸۲[۴۵] کال پاليسي دا تاييدوي چې دغه وزارت د داسې ليدلورې ملاتړ کړی چې د بنسټيزو عامه توکو د چمتو کولو ، د خپل ځان سره د مرستې د نوښتونو څخه د ملاتړ، او د بېوزلو د ملاتړ او د ځايي ادارې د ودې له لارې د بيوزلو د سوکالۍ لامل شي. دغه وزارت بريالی شوی دی چې پراخه اجنډا لرونکې پروګرامونه طرح ، د وزارت ظرفيت لوړ کړي، او په بريالیتوب سره د تمويلوونکو څخه مالي سرچينې لاس ته راوړي او پر دغو ټولو برسېره د مديريت د يوه ګټور سيستم په رامنځته کولو سره د خدمتونو په وړاندې کولو کې ښه بريالیتوب ترلاسه کړي.

د کليو د بيارغونې او پراختيا د وزارت د ملي پيوستون پروګرام د دغه وزارت د ګڼ شمېر بريالیتوبونو يوه بېلګه ده، دملي پيوستون پروګرام په ټول هيواد کې په بېلابېلو پړاوونو کې پلې شوی دی؛ پداسې ډول چې په ۱۳۸۵ کال[۴۶] کې په منځ مهاله بياکتنه کې په ټولو ۳۴ ولايتونو کې ۱۹۳ ولسوالۍ يې ترپوښښ لاندې راوستلې دي. او په ټوليزه توګه يې ۱۲۲,۱ ميليون ډالره د دغه پروګرام له لارې لګول شوې دي او پر دې برسېره ژمنه شوې چې نور ۲۱۴,۲ ميليون ډالره به هم د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت له لارې لګول کيږي.

د پروګرامونو او د ټولنې لخوا د مالي مرستو اندازه د کليو په کچه چيرې چې د ملي پيوستون پروګرام فعال دی عامه توکو ته د

---

۳۴ ،۱ ((ځمکه ، کرهنيز معيشت او بېوزلي)) ولولئ. او په سويل کې د کليو په اړه بيا تفکر: نړيوال پرمختګ ګڼه(۱۳۸۷ ) :۱۸۰-۲۰۲

۴۳ اخيستل شوي د ورنافريتز او آلينا روچامنو کال د (( په نوې زريزه کې پرمختلونکي دولتونه: د مرستو د نوې اجنډا لپاره ننګونې او مفهومونه)) له اثر څخه، د پرمختيا د پاليسۍ ارزونه ۲۵، ۵ ګڼه (۱۳۸۲ ) : ۵۳۱۲۵۲

۴۴ ستراتېژيک قصد )) ، د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت ( کابل: ۱۳۸۲ )

۴۵ د ملي پيوستون د پروګرام د منځمهالې ارزونې راپور، ۱۳۸۷: د جګړې څخه وروسته د بيا رغونې او پرمختګ واحد ( د يورک له جګړي څخه وروسته د بيا رغونې او پرمختګ برخه ) د يورک پوهنتون، ۱۳۸۷

۴۶ PRDU )) د ملي پيوستون د پروګرام منځمهاله ارزونه )) د ۱۳۸۵ کال د غويي مياشت

خلکو د لاس رسی د ښه کیدو لامل کیږي. په کلیو الو سیمو کې دا ډول پانګونې په کلیو کې د دولت د حضور د زیاتوالي لامل دی او کلیو ته د عامه خدمتونو په رسولو کې د دولت د قدردانۍ لامل کیږي.[47] او د ډیرو کلیو لپاره دا یوه تجربه وه چې د تاریخ په اوږدو کې ورسره نه وو مخامخ شوي. له همدې امله دملي پیوستون پروګرام په پراخه توګه یې د یوې بریا په توګه څرګند کړ.

که څه هم چې د بدلون رول چې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د خپل د ملي پیوستون د پروګرام له ټولنیزې پراختیایي شوراګانو څخه یې د رسیدو هیله لري دومره څرګند نه دی. په خواشینۍ سره دعمل په ډګر کې د ټولنیزو پراختیایي شوراګانو د پروژو پلي کېدل د ملي پیوستون د پروګرام د اجرائیوي لارښوونو[48] څخه واټن وموند او ځای یې ټولنیزو زړو جوړښتونو ونیو او دا دي لامل شو چې د نویو ټولنیزو پراختیایي شوراګانو په ټاکنو کې د دغو شوراګانو ټول پستونه د پخوانیو غوره کسانو او زورواکو لخوا ونیول شي. په دې توګه د ټولنیز بدلون کچه او د شوراګانو دوام[49] د پوښتنې وړ دي.

د کلیو د بیارغونې او پراختیا د وزارت د پالیسۍ کره او بنسټیزه څېړنه په تیوري او عمل کې، لکه د ملي پیوستون د پروګرام پلي کېدل او د هغه عملي پایلې د داسې پوښتنو او بحثونو د راپیدا کېدو لامل کیږي چې آیا د پالیسۍ دغه فلسفه د هغو پایلو سره چې دا یې ادعا کوي په بشپړه توګه سمون لري. لکه څرنګه چې د پالیسۍ په تولیدونکې فلسفه کې یادونه وشوه د پالیسۍ داسې فرضیې شته چې د اعتبار وړ نه دي او د پالیسۍ په فلسفه کې د تشو څرګندوونکې دي. خو د تل لپاره د شواهدو څخه په ګټې اخیستنې د دغه شان فرضیو د پلټلو لپاره لېوالتیا موجوده نه وه چې د پالیسۍ فلسفه ننګونې سره مخامخ کړي.[50] په دې مفهوم چې یو له بل پراخ بحثونه شته چې پراختیا ورکونکې فلسفه په کې ښکیل نه ده. د یوه وزارت په توګه د کلیو د بیارغونې او پراختیا د وزارت د بریالیتوبونو یوه برخه کېدای شي په بحث پارونکې توګه د هغه څه په اړه چې باید وشي د دغه وزارت د لیدلورې او د تمویلونکو تر منځ د بېوزلۍ د کموالي لپاره د اړینو چارو په اړه د نظر یووالي (سالمه اداره او ټولنیزه وده[51] او پرمختګ) سره تړلې وګڼل شي. نو په دې توګه دکلیو د بیارغونې او پراختیا د وزارت پالیسي د بسپنه ورکونکو د پالیسۍ انعکاس ورکونکی ګڼل کېږي او په دې توګه د پراختیا ورکوونکې فلسفې دبریالیتوب په برخه کې مرسته کوي. او تر یوې اندازې د کلیو د پراختیا لپاره یو مدیریتي کړنلاره مطرح کوي، او د عمل لپاره د بېوزلو په ظرفیت ټینګار کوي مګر د نابرابرۍ ټولنیزو جوړښتونو او هغه ځواک ته چې په لومړي سر کې د بېوزلۍ په زیاتیدو کې یې ونډه درلوده لږه پاملرنه کوي. په لنډه توګه داسې نه شي انګیرل کېدای هغه څه چې پالیسي جوړونکې فکر کوي کولای شي لاس ته یې راوړي، په حقیقت کې په عمل کې هم پېښېږي. نسبت هغه څه ته چې پرمختیا ورکوونکې فلسفه یې اجازه ورکوي د پالیسۍ د نظرونو، د پالیسۍ د عمل او د پالیسۍ د لاس ته راغلو پایلو[52] په منځ کې یوه زیاته اندازه بې نظمي او تقاطع شته.

## بازار هڅوونکې فلسفه

په پالیسۍ پورې اړوند دریمه فلسفه په اصل کې د امریکې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې (USAID) له خوا تایید شوې او د پراختیایي وړتیا په برخه کې د خصوصي سکتور د ځانګړې ملاتړ سره د هغه موقف د بازار هڅوونکې په توګه ځانګړی شوی دی. ددې غوښتنه د پالیسۍ د تاریخ څخه په نیغه د امریکې د ازاد بازار له نمونې څخه اخیستل شوې ده، خو د وخت په تېرېدو دغې فلسفې خپل موقف د ځواکمن آزاد بازار له ملاتړ څخه د کرهنیزې سوداګرۍ او سوداګریزکولو ته اړولی دی. د د غه موقف رامنځته کېدل کېدای شي د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ د وزارت په ماسټر پلان کې د هغه د ځای په ځای کېدو او په همدې وخت کې په افغانستان کې د امریکې د متحده

۴۷ د فاریاب ولایت لپاره د بیارغونې او بیاپراختیا پروګرام، دویم پړاو، وروستۍ ارزونه: کریسشن اید ته راپور (( آدم پین، هرات، کریسشن اید، ۱۳۸۲، ))

۴۸ (( په افغانستان کې د کرنې او د کلیو د پراختیا لپاره د پالیسۍ جوړول: یوه تر څېړنې لاندې قضیه)) (د څېړنې او ارزونې اداره: کابل، افغانستان، × کال)آدم پین او محمد شاه ۱۳۸۸

۴۹ د بېلګې په توګه د کلیو په اقتصاد کې د مالي اعتبارونو د نشتوالې او د هغه لپاره د کوچنیو اعتبارونو د ونډې په اړه بحث ته (( د فلورتیجي کلیجن او آدم پین اثر)) ولولئ ، د پیسو موندل: د افغانستان په کلیو کې د کوچنیو اعتبارونو عمل( د څېړنې ا وارزونې اداره، کابل، افغانستان، ۱۳۸۲)

۵۰ جان ویس، (( د بېوزلۍ د کمولو لپاره د مرستې بېلګې، ایا دا مفهوم لري؟ د پراختیا د پالیسۍ بیاکتنه، ۲۲ ، ۴ ګڼه (۱۳۸۷) :۴۰۷ ۴۲۲

۵۱ موز، ((آیا یوه مناسبه پالیسي د پلي کولو وړ نده؟، )) ۲۲۲

۵۲ MAAHF ، د کرنې ماسټر پلان. ۱۳۸۴.۱

ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې د پروژو په څېر لوا که پلې کولو او د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د کرهنې او کلیو د پراختیا په سکتور ستراتیژۍ کې د امریکې د نړیوالې پراختیایي ادارې په اقداماتو کې وارزول شي. د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ د وزارت د ماسټرپلان د سریزې وروستۍ نسخه د بازار هڅونکې تمرکز بنسټ ږدي چې د کرهنیزو عایداتو د زیاتوالې په برخه کې د کرنې د سکتور مهم رول په ګوته کوي او په دې توګه غیر کرهنیز سکتور را مینځ ته کوي او د کلیو په کچه د کار موندنې فرصتونه رامینځ ته کوي.

په ټولیزه توګه د ماسټر پلان بېلابېلې برخې پدې موخه طرحه شوي چې د کرنې په سکتور کې د ۶ سلنې ودې لامل شي. او د ۱۲ کلونو په اوږدو کې به کرهنیز عایدات دوه برابره کړي. د ودې دغه بېلګه د لوړو عایداتو او په کلیوالی غیرکرهنیز سکتور کې د ګمارنې د فرصتونو د شمېر د زیاتوالې له کبله په عادي ډول د کلیو د عایداتو په وېش کې هیڅ ډول بدلون نه راولي یا دا چې دا بدلون به ډېر کمزوری وي. له دې کبله د کلیوالو سیمو ټولیز عایدات به هم دوه برابره شي چې په پایله کې به د کرنې سکټور وکولای شي چې په نړیوال او داخلي بازار کې د بازار د اوسنیو لارښوونکو سره سیالي وکړي.[53]

دغه بازار هڅونکی لید همدارنګه د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې په پروګرامونو کې چې ټول یې د دولت د بودیجوي کنټرول څخه بهر دي ، په څرګنده توګه لیدل کیږي. د بېلګې په توګه، د کرهنیزو بازارونو د بیا جوړولو پروژې[54] یوه ټولیزه موخه درلوده چې د ۵ کرهنیزو توکو په بازاري ارزښت کې ۲۵۰ میلیون ډالره زیاتوالی راولي ترڅو پدې توګه څرګند کړي چې د هغې اغېزې باید څه ډول وارزول شي. په حقیقت کې د امریکې نړیواله پراختیایي اداره په خپله ارزونه کې ادعا کوي چې د ۷ بازاري ارزښت لرونکو توکو د تولید سره له خپلې موخې څخه وړاندې دي او د بازار هڅونکې ځنځیري ارزښت د کړنلارې په کارولو سره یې د ۱.۷ بیلیون ډالرو په ارزښت محصولات بازار ته د وړاندې کولو په موخه تولید کړې دي[55].

د کرنې د بېړني ثبات د پروګرام(ASAP) د جوړولو او پلې کولو په پړاو کې د امریکې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې بازار هڅونکې کړنلاره انډول او یو موټې وه چې د کرنې په سکتور کې د خصوصي سکتور په ونډه تمرکز کوي[57] پدې حکایت کې د کرهنیزو بازارونو د بیاجوړونې د پروژې دوام او د بازار هڅونکي کرهنیز سیستم د ودې له لارې اقتصادي ودې ته د ماسټرپلان پر ژمنتوب ټینګار کوي. د کرنې د بېړني ثبات د پروګرام اصلي موخې په لاندې ډول دي:

... د خصوصي سکتور د هڅونې له لارې د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې برخه اخیستنه (او) په آزادو ا و سیالۍ کونکو بازارونو کې د غوښتنې پر بنسټ کرهنیزه وده ... (دا به ) د کلیو په اقتصاد کې د کارګرانو د تولیدي ځواک د زیاتوالې لامل شي او تنخواګانو ته زیاتوالی ورکوي او په تدریجي ډول د مطلقې بېوزلۍ تر ټولو بد اړخونه له منځه وړي[57].

د کرهنیزې ودې او د بېوزلۍ د راټیټولو تر مینځ اړیکې د بازار هڅونکې فلسفې سره سم باید د اقتصادي رکود د تدریجې اغیزو له لارې تر لاسه شي.

لکه څرنګه چې یادونه وشوه د وخت په تېرېدو سره بازار هڅونکې فلسفه د امریکې د متحده ایالاتو دنړیوالې پراختیایي ادارې لخوا او د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتېژۍ د کرنې او کلیو د پراختیا د سکتور په ستراتیژۍ کې د هغه ځای په ځای کېدل د افغانستان پر آزاد بازار د تمرکز څخه کرهنیزې سوداګرۍ ته د زیاتې پاملرنې په لور بدلون موندلی دی. دکرنې او کلیو د پراختیا

---

[53] د امریکې د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره، ((د کرهنیزو بازارونو بیاجوړونه )) وروستی راپور (چمتو شوی: د کمونیکس انټرنشنل لخوا ، ۱۳۸۷ کال) دغه پروژه له ۱۳۸۱ کال څخه تر ۱۳۸۷ کال پورې د ۱۴۵ میلیون ډالرو په بودیجه فعاله وه.

[54] د امریکې د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره، ((د کرهنیزو بازارونو بیا جوړونه، )) ۱۰. د ارزښت د ځنځیرې یو تګ لوری د بازار د اقتصادي ګټورتیا د پوهېدو لپاره یوه وسیله ده.

[55] د امریکې د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره، ((د کرهنیزو بازارنو بیا جوړول))

[56] د امریکې متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره د کرنې د سکتور د اجمالي ارزونې د وړاندیزونو لپاره غوښتنه ( د امریکې د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره: (۱۳۸۷ ) .۵

[57] انان، د کرنې او کلیو پراختیا هراړخیز پروګرام لپاره وړاندیز شوې نسخه( هر اړخیز، ) یا یو کرهنیز انقلاب، ( ناچاپ، ۱۳۸۲ کال)

د ستراتیژۍ د مسودې په اړه د خبرو اترو او بحثونو په ترڅ کې ظاهراً د امریکې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې په غوښتنه کې یوه سلاکار یوه اضافي مسوده یې د کرنې او کلیو د هراړخیز پراختیا د پروګرام تر نامه لاندې جوړه کړه. چې نوموړې مسودې دا په ډاګه کړه چې د کلیوالي اقتصادي پراختیا لپاره د لوړې کچې کرهنیزه سوداګرۍ بنسټیز اهمیت لري:

د "سوداګریزې کرنې" په اړه د نړیوالې ټولنې او د افغانستان د دولت دنظر یو والي ته په پام سره دا څه مانا لري؟ دا سې انګیرل کیږي چې اعانه ورکونکې ګڼ ملیتي شرکتونه د افغانستان په شمال کې د لویو پانګونو سره مخ پر وړاندې روان دي، مونږ څرنګه کولای شو دا ومنو چې دا موډل دې د هغه موډل سره چې په اصطلاح کې ورته د "Baby Doles" یې بولي تکرار یې کړو یا په ټول افغانستان کې سیمه ایز کرهنیز سوداګریز مرکزونه رامنځ ته کړو؟ او په کرنیزه سوداګرۍ کې نړیواله پانګونه څه ډول کولای شي بیوزله کروندګرو او تریاکو لپاره د معیشت عملي بدیلونه چمتو کړي.[58]

په بشپړه توګه د نظر هغه یووالی چې دغه توضیحی پاڼه پرې خبرې کوي روښانه نه دی، که څه هم چې په څرګند ډول دا د هغه لیدلورې ښکارندوی دی چې څه باید وشي تر څو کرهنیزې سوداګرۍ ته د پراختیا دیوې وسیلې په توګه وده ورکړو. خو دغه نقل وقول د کرهنې د پراختیا "سوداګریز مډل" او "Dole Model" چې په ۱۳۸۶ کال کې یې په کار پیل وکړ او د امریکې د متحدو ایالتونو د نړیوالې پراختیایي ادارې ملاتړ ورسره وو، که څه هم چې دا پانګونه د افغانستان په شمال کې ونه شوه.

بازار هڅونکې فلسفه د بېوزلو په ګټه دودې یو استدلال نه دی[59] او نه هغه شرایطو ته یې پاملرنه کړې چې د هغې په رڼا کې بیوزلې له ودې څخه ګټه اخلي. سر بیره پردې، که څه هم چې اوس هم دا استدلال کیدای شي چې ولې کرهنیزه پراختیا کولای شي بېوزلې په نیغه او یا په غیر مستقیمه توګه په کرونده ، کلیو او د هېواد په کچه په لنډ یا اوږد مهال کې را ټیټه کړي خو د دغه شان ګټې تضمین ندی شوی. که چېرې په کرهنیز تولید کې د بدلون او پر بېوزلۍ د هغه د اغېزو تر منځ اړیکې شتون ولري، هغه مهمې انګیرنې چې پدې برخه کې شته، باید تر سره شي[60]. د کرهنیزې پراختیا زیاتې مثبتې اغېزې په هغه کوچنیو کرنیزو ځمکو پورې تړلې دي چې د کرنې په پراختیا کې ستر رول لوبوي او دا هغه څه دي چې تضمین یې نه شي کېدای. او دا هغه ټکي نه دي چې بازار هڅونکې فلسفې په پام کې نیولې دي.

په لنډه توګه د پالیسۍ درې ګونې فلسفې معرفی شوې تر څو د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسۍ د اصلي فعالینو موقف په ځانګړې ډول څرګند کړي. دوی د خپلو ستونزو او د پالیسۍ د حل لارو له نظره چې د پالیسۍ له بیلا بیلو تاریخي پړاوونو څخه یې اخیستې دي له یو بل سره توپیر لري. دا ټول د پالیسۍ له بحثونو نه وړاندې ټاکل شوې وو ، او د مخکینیو باورنو او نظریاتو پر بنسټ رامنځته شوې دي چې د افغانستان د کلیو د شرایطو د کره شننې پر بنسټ ولاړ ندي. شواهدو او بحثونو ته په پام سره دا ټول د کمزورتیاوو درلودونکې دي. په همدې توګه هره یوه فلسفه د دولت د رول په اړه د بیلا بیلو موقفونو په واسطه تاییدیږي چې د جګړې وروسته دولت جوړونې د بحثونو سره اړوندې دي. په تولیدونکې فلسفه کې ددولت رول ستر، په پراختیاورکونکې فلسفه کې منځنۍ او په بازار هڅونکې فلسفه کې ډیر وړوکی ګڼل شوی دی.

د کلیو د بیارغونې او پراختیاپه وزارت کې ټینګ پرمختیا ورکونکی موقف شتون لري چې په عمومي توګه د وزارت د تایید وړ دی او په معقولې پلان جوړونې، مدیریت او ټولنیزې مهندسۍ تمرکز لري. مګر د کرهنې د پراختیا په اړه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د کارکوونکو چې د تولیدوونکې فلسفې ملاتړ کونکې دي او د امریکې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې تر مینځ چې د بازار هڅونکې فلسفې څخه

---

[58] انان، «د کلیو او کرنې د پراختیا د هر اړخیز پروګرام لپاره وړاندیز شوې نسخه»، ۲

[59] د افغانستان په ملي پرمختیایي ستراتیژۍ کې تعریف شوي ۱۳۸۷-۱۳۹۱ : د امنیت، اداري، اقتصادي ودې او بېوزلۍ د کمښت ستراتیژي،( کابل ، د افغان دولت ،۱۳۸۷ کال ) پدې شرط چې «هلته چې د ډېرو بیوزله خلکو معیشت او عایدات د منځنۍ اقتصادي ودې څخه چټک زیاتوالی ومومي »۵

[60] د بېلګې په توګه د کارکوونکو هغه شمېر چې کرهنیزه پراختیا کولای شي خپل ځان ته یې را جلب کړي

ملاتړ کوي د نظريو توپير شتون درلود. او د دغو دو مخالفو نظرونو په منځ کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ په وزارت کې يو شمېر سلاکاران وو چې ښايي پرمختيا ورکوونکې موقف ته ډېر نږدې وو او له بېلابېلو لارو يې هڅه کوله چې هغه لورې ته د وزارت لارښوونه وکړي. وروسته دغه پانه پوښتنه کوي چې په څه ډول دغه حکايتونه او د دوی ملاتړ کوونکې (خلک او سازمانونه ) د کليو او کرنې د پراختيا په پاليسۍ جوړونه کې ښکيل دي.

هغه څه چې د پاليسي جوړونې د بهير څخه څرګند دي دا دی چې د پاليسۍ د دريو بېلابېلو فلسفو څخه د يوې ګډې فلسفې د موندلو په اړه کمه همکاري او مشورې شوې دي.

# ۴. د پاليسۍ د فلسفو په هکله مباحثه: د پاليسۍ جوړونې بهير او عمل

پدې برخه کې د پاليسۍ جوړونې ځانګړتياوې د پاليسۍ د بېلابېلو فلسفو تر منځ سيالي او د هغو خلکو او سازمانونو فرصت غوښتونکی چال چلند دی چې د پاليسۍ د يوه ځانګړې حکايت لپاره هڅه کوي او په دې توګه د بحث او خبرو اترو لپاره فرصت له منځه وړي. دغه مسئله په ځانګړې ډول د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت په وروستي ماسټرپلان او د افغانستان په ملي پراختيايي ستراتيژۍ پورې اړوند دکرنې او کليو د پراختيا په سکټوري ستراتيژۍ په را مينځ ته کيدو کې رښتيني ده. خو دغه مسئله بيا د کليو د بيارغونې او پراختيا د وزارت د پاليسۍ جوړونې د بهير په شان رښتينې بڼه نه لري، چې په بېلابېلو دليلونو يې په وزارت کې د ملاتړ کونکو يو ګډ جوړښت رامنځته کړی دی.

## د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ د وزارت د ماسترپلان جوړول

له ۱۳۸۲ کال څخه راهيسې د برېتانيې د نړيوالې پراختيا لپاره ځانګړې(DFID) د "کليو د باثباته معيشت لپاره د ستراتېژيک پلان جوړولو ملاتړ" په نامه يو پروګرام سره هم د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ په وزارت کې او هم د کليو د بيا رغونې او پراختيا په وزارت مالي مرسته وکړه. د ۱۳۸۴ کال څخه راهيسې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ په وزارت کې دوه نړيوال سلاکاران موجود وو چې د دغه وزارت د ماسټر پلان په جوړولو کې يې ارزښتناک رول لوبولی دی او د دغه پلان جوړولو له لارې يې د دغه وزارت د ظرفيت په لوړولو تمرکز وکړ. د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت ملي کارکوونکو که څه هم چې ځينې يې د هغه تګلورې په اړه چې وزارت ته يې لارښوونه شوې زړه نا زړه وو خو دا يې تصديق کړه چې د ماسټر پلان جوړولو په بهير کې د برېتانيې د نړيوالې پراختيا لپاره ځانګې ښکېليدل د ستراتيژيکې پلان جوړونې د بهير په اړه د پوهاوي د زياتوالي او تر يوې کچې د پروګرام په منځپانګه د افغان لارښود مالکيت په برخه کې يې مرسته کړې ده.

پدې برخه کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د کارکونکو يعنی هغه ډلې چې د توليدونکې فلسفې څخه يې ملاتړ کاوه او هغه کسانو چې پر توليدونکې فلسفې يې باور درلود تر منځ د نظر بيلوالې شتون درلود. همدارنګه د سلاکارانو تر مينځ هم د نظر توپير ليدل کيدو، لومړی هغه چې د کرنيزو بازارونو د بيارغونې په پروژه کې يې کار کاوه او د امريکې د متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيايي اداري ملاتړ يې درلود او د ماسټر پلان د جوړولو په وروستي پړاو کې شامل شول او دويمه ډله هغه سلاکاران چې د پاتې بسپنه ورکونکو لخوا يې ملاتړ کېده او د پراختيا ورکوونکې ليد پلويان وو. په يقيني توګه د وزارت هغه رسمي کارکوونکې وو چې د ماسټرپلان د لاس ته راوړنو څخه خوښ وو، خو سره لدې هم دوی احساس کاوه چې مرستندويانو د پروګرام په منځپانګه کنټرول درلود؛ ځکه دوی هغه کسان وو چې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ د وزارت د چارو لپاره يې پيسې چمتو کولې او پريکړه يې کوله چې نومورې پيسې په څه ډول ولګول شي. د وزارت يوه لوړپوړي غړې وويل: چې بهرني متخصيصين د پاليسۍ رښتيني جوړوونکي وو[۲۱]

[۲۱] خبري مرکه، (د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، رسمي)،

د ماسټرپلان د چمتو کولو په وروستي پړاو کې د پرمختيا ورکوونکي فلسفې او بازار هڅوونکي فلسفې او د دوی د ملاتړ کوونکو تر منځ يو لوی بېلتون راغی. د وزارت يوه کار کوونکي[۲۲] د نظرونو دغه بيلوالی د امريکې د متحدو ايالاتو د نړيوالې پراختيايي ادارې د کرهنيزو بازارونو د بيا رغونې د پروژې د سوداګريزي تګ لورې ملاتړ کونکو تر مينځ چې د خصوصي سکتور په لارښوونه پراختيا يې د بيوزلی د راټيټولو يوه ښه لاره ګڼله او د کرنې د پراختيا په اړه هغه ټولنيزي انديښنې کوم چې د نورو بسپنه ورکونکو له خوا په ځانګړې توګه د بريتانيې د نړيوالې پراختيا څانګې (DFID) له خوا منعکس شوې وې، يې سره پرتله کړې. دغه کار کوونکې دا احساس يې درلود چې د امريکې د متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيايي ادارې موقف د غښتليو استدلالونو په لرلو سره پياوړی او زيات تخنيکي ؤ، وزارت د بيوزلی د راټيټولو لپاره د "ټولنيزې تګلورې" د تعقيب لپاره بسيا وخت نه درلود.

د هغو سلاکارانو لپاره چې د پراختيا ورکوونکې فلسفې ملاتړ کوي، د ماسټرپلان د جوړښت په برخه کې هغه نفوذ چې د امريکې د متحدو ايالاتو د نړيوالې پراختيايي ادارې درلود د دغې ادارې د بازار هڅونکي استدلال د وړتيا په هکله، نسبت د دغې ادارې د هغه قابليت په اړه چې پر وزير اغيزه وکړي ډير لږ پوښتنې يې را مينځ ته کړې دي. په حقيقت کې دا څرګنده ده چې د دواړو فلسفو د ملاتړ کوونکو تر مينځ هيڅ کله يو آزاد او جدي بحث نه دی تر سره شوی. د يوه مالي مرستندوی سلاکار [۲۳] په اند په هغه وخت کې د وزارت لارښوونه د داسې چا لخوا

کېده چې وزير ته نږدې کس ؤ او د ماسټرپلان د جوړولو تر پايه د امريکې د متحدو ايالاتو د پرمختيايي ادارې غړو کارکوونکو له وزير سره د کتلو زيات فرصت درلود. د دغه سلاکار په وينا د وزير سره د متحدو ايالاتو د نړيوالې پراختيايي ادارې اړيکو د پاليسۍ جوړونې بهير يې له خپلې تګلارې واړولو او د بېلابېلو حکايتونو ترمنځ د اړيکو د پرې کېدو لامل وګرځيد.

د پاليسۍ په حکايت کې توپير د امريکې د متحده ايالاتو د پرمختيايي ادارې هغه موقف چې د پراختيا لپاره د بازار هڅونکې لارې غوښتونکی دی او په پايله کې د هغو اغيزې په تدريجي توګه د بېوزلۍ د کموالي لامل ګرځي. د دې پرضد هغو نورو سلاکارانو د بيوزلۍ په کموالي، کرنيزو سيستمونو او کليوالي معيشت يې تمرکز درلود. همدارنګه د امريکې د متحده ايالاتو نړيوالې پراختيايي ادارې د کرنيزو بازارونو د بيارغولو د پروژې له لارې د پاليسۍ جوړونې په بهير کې چې د وزارت د ظرفيت جوړونې او لارښوونې سره په تړاو کې وو مداخله يې کړې او اجندا يې په خپل کنټرول کې راوستې ده. نور سلاکاران او تمويلوونکې چې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ له وزارت سره کار کوي په ځانګړي توګه د هغه کړندود مخالف وو چې د ماسټرپلان کابو وروستی لاسوند د متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيايي ادارې لخوا اخيستل شوی او د سلا مشورې پرته بيا تسويد شوی، او ددوی په آند د امريکې د متحدو ايالاتو د پراختيايي ادارې نظر وو چې د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په پاليسۍ کې څه ته بايد ځای ورکړي. [۲۴]

## د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ د کرنې او کليو د پراختيا د سکټور ستراتېژي

د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ د کرنې او کليو د پراختيا د سکټور ستراتيژۍ جوړښت د کرنې او کليو د پراختيا د پاليسۍ د منځ پانګې او لورې په اړه بيلابيلې ليواليتاوې او د نظر توپيرونه څرګند کړې دي. د دواړو وزارتو تر مينځ بيلتون او د کرنې او کليو د پراختيا د سکټور د ستراتيژۍ د منځ پانګې او د لومړيتوبونو پر سر سخته مبارزه روانه وه. تر يوې اندازې

[۲۴] پروفيسور نادري د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتېژۍ د سکرتريت رييس او د ولسمشر لوړپوړی اقتصادي سلاکار.

پيرز. کوم، مرکه، د ۱۳۸۲ د زمري د مياشتې ۲۳

[۲۲] د امريکا د متحده ايالاتو نړيوالې پراختيايي ادارې لخوا تمويلېدونکی «د کرنيزو بازارونو د بيارغونې پروګرام»، ۱۳۸۲-۱۳۸۱

[۲۳] د يوه باخبره کس په وينا (د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سلاکار)، او د نورو خبرلرونکو لخوا تاييد شوی. دغه سند د دريو اوونيو لپاره اخيستل شوی او بيا تسويد شوی دی چې د امريکا د متحده ايالاتو د پرمختيايي ادارې د نظرونو څرګندوونکی وي. خبري مرکه، ، «د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ د وزارت سلاکار»، پيرز. کوم، مرکه، د ۱۳۸۲ د سلواغې ۱. يوه پېښه چې پدې وروستيو کې يې راپور ورکړ شوی دی هغه متن چې د بياځل لپاره تسويد شو او د وزير په لاسليک بدل کړای شو. د اصلي متن د بېرته راوړلو لامل يوائې د دغې (مېرمنې) مداخله وه چې د بدل کړای شوي متن په ځای يې اصلي متن چې پرې توافق شوی ؤ، ځای په ځای کړ.

دا مساله د اړينو چارو د سرته رسېدو په اړه د مختلفو ليدلورو ښکارندويي کوي. خو له بل پلوه دا پوښتنه هم شته چې هر وزارت په کومه اندازه کاري صلاحيت او اختيارات لري. همدارنګه د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ د سکرتريت او د دوو وزارتونو تر مينځ اړيکې هم شته دي، د مخکينيو هڅو پر اساس چې غوښتل يې څو د دواړو وزارتونو لپاره د کرنې او کليو د پراختيا يو ګډ سکټور رامينځ ته کړي.

د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ سکرتريت، د کرنې او کليو د پراختيا د سکټور ستراتيژۍ د پراختيا لپاره د خپلې پاليسۍ په غوره توب کې بې پرې نه ؤ، پروفيسور نادري[25] د هغه څه په اړه چې د کليو او کرنې د سکټورونو لپاره د پاليسي اجنډا بايد څه وي، يوه ډېره مشخصه نظريه وړاندې کړېده. نوموړې پدې اړه د امريکې د متحده ايالاتو په نړيوالې پراختيايي اداره کې يو ګډ همکار وموند، چې د خپلې اجندا په کارولو کې يې د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ د سکريت سره او د هغې د نفوذ په برخه کې يې مخنيوى نه کيده، چې تر يوه حده د دغې ستراتيژۍ د پراختيا لپاره د مالي مرستې څخه يې منشا اخيستې وه.

دا ډېر ستونزمن کار دى چې په بشپړ او دقيق ډول د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ د کليو او کرنې د پراختياد سکټور ستراتيژۍ په پرمختګ کې پيښې په بشپړه توګه حل او فصل کړو. هغه څه چې ښکاره دي دادي چې له ۱۳۸۵ کال راهيسې دواړو وزارتونو په خپلو اړوندو برخو کې يې په موازي توګه چارې پيل کړې دي او پدې اړه يې خپل ليدلورى وړاندې کړى چې د کليو او کرنې د سکټور د پراختيا ستراتيژي به څه ډول وي. خو ددوى په منځ کې په دې اړه چې يوه هراړخيزه او يو موټې پاليسي بايد څه ډول وي، ډېره کمه اړيکه وه. دا قضيه کېداى شواى په افغانستان کې د کليو د بېوزلۍ او د هغو د لاملونو په اړه په يوه ګډ درک سره پيل شي. لکه څرنګه چې د کرنې او کليو د پراختيا د سکټور د ستراتيژۍ وروستۍ لاسوند[26] څرګندوي، دغه بحث او خبرې اترې هيڅکله هم ندي تر سره شوې او بېوزلۍ په پراخه کچه د کمې پاملرنې وړ مسلې او د کرنې او کليو د پراختيا د سکټور د ستراتيژۍ د موخو په اړه د بحث پر ځاى د پاليسۍ د بيلا بيلو فلسفو او د پروګرام د ستراتيژيو تر مينځ د ناندرۍ په توګه پاتې شوېده.

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ماسټر پلان په زياته اندازه د کرنې او کليو د پراختيا د سکټور د ستراتيژۍ په برخه کې ددې وزارت د ونډې ټاکونکى دى. د کرنې اوبو لګولو او مالدارى او د کلو د بيا رغونې او پراختيا د وزارتونو د ګډو همکاريو لومړنۍ مسودې د نوموړې ليکوال له خوا نه دي کتل شوې، خو دا ښکاره ده چې د کرنې او کليو د پراختيا د سکټور ستراتيژۍ هغه مسودې چې د ۱۳۸۵کال د غبرګولې او چنګاښ وروسته د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ سکرتريت ته رسيدلې په يوه سند کې د پاليسۍ درې ګونې حکايتونه لري، چې په بيلابيلو برخو وېشل شويدي.

دا مسوده د ملي پرمختيايي ستراتېژۍ د سکرتريت يا د پروفيسور نادري لخوا نه ده منل شوې، ځکه چې د کرنې او کليو د پراختيا د سکټور ستراتېژۍ مسوده د هغه د ليد لورې سره سمه نه وه.[27] يوه خبر لوڅ[28] وويل چې د ملي پراختيايي ستراتېژۍ سکرتريت خپل ځان د پاليسي جوړونې دبهير تر کنټرول لاندې ګڼه او د هغو کسانو د نظرياتو اورېدلو ته يې لېوالتيا درلوده چې وکولاى شي ښې مفکورې وړاندې کړي. دا څرګنده نه ده چې د "کرهنيز انقلاب" سوداګرۍ هڅونکې مفکوره د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ څخه راغلې او که يوه "لويه مفکوره" وه چې د بهر څخه را وارده شوې وه. خو هغه څه چې ډېر څرګند دي دا دي چې د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژۍ له لورې د کرنې د پراختيا په موخه د کرنې او کليو د پراختيا د سکټو ر پر ستراتيژۍ د يوه پياوړې بازار هڅونکې تګلورې لپاره فشار راوړل شوى دى. د کرهنيز انقلاب بېلابېلو نسخوشتون، د پاليسۍ جوړونې او پاليسۍ د لارښوونې انډول

[25] پين او شاه، ((د کرنې او کليو د پراختيا په اړه پاليسي جوړونه))، ۴۳

[26] خبري مرکه، ((د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سلاکار))، pers.comm د ۱۳۸۲ د زمري ۱۴: پدې نظر ؤ چې پروفيسور نادري د کليو او کرنې د پراختيا لپاره د اړينو چارو په اړه خپل شخصي نظر درلود، که څه هم چې هغه پدې اړه کم شاليد لري.

۲۷ خبري مرکه، ((د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سلاکار))، pers.comm د ۱۳۸۲ د زمري ۱۲

۲۸ خبري مرکه(سلاکار، د کرني اوبو لګولو او مالدارى وزارت) pers.comm، د۱۳۸۲ کال د زمري ۱۴.

بهیرونو څرګندونکې دي چې د کلیو او کرنې د پراختیا د سکتور د ستراتیژۍ په جوړښت کې لویه ونډه درلوده او په وروستیو تولیداتو کې په څرګنده لیدل کېږي. د کرنې او کلیو د پراختیا د سکتور د ستراتیژۍ[۶۹] د جوړښت په پروسه کې یوه ګډون کوونکې وویل: سره لدې چې په عین وخت کې دواړه وزارتونه تر فشار لاندې وو ترڅو دیوې ګډې ستراتیژۍ د رامنځ ته کېدو پر سر جوړجاړي ته ورسیږي، دافغانستان ملي پراختیایي ستراتیژۍ سکرتریت د متحده ایالاتو نړیوالې پراختیایي ادارې ته دنده سپارلې ده تر څو له دواړو وزارتونو له مشورې پرته د کرنې او کلیو د سکتور د یو ټوټه کولو د څرنګوالي په اړه دې د ستراتیژۍ یو سند ولیکي. د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ اړوند د کرنې او کلیو د پراختیا د سکتور د ستراتیژۍ په وروستۍ مسوده کې د کلیو او کرنې د پراختیا د پالیسۍ له فلسفو څخه یو ټاکلی لنډیز چې دامریکې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې (چې د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژۍ سکرتریت ته بسپنه ورکوي) د ګمارل شویو بهرنیو سلاکارانو لخوا چمتو شوی نندارې ته وړاندې کوي او پرهغه تناقضاتو چې د کرنې او کلیو د پراختیا د سکتور د ستراتیژۍ په ورستۍ مسوده کې دي تمرکز کوي. د بېلګې په توګه دا عبارت چې وایي "یو غوره تمرکز د کلیوالي ټولنې تر ټولو بېوزلې او زیانمنونکې برخو څخه ملاتړ کوي او د وړو او منځنیو کچو سوداګریزې کرنې د چارو د پراختیا لامل کیږي"[۷۰] ښایي ځینو ته حیرانونکې وي چې غوره تمرکز یعنې څه؟ پر بېوزلو او که پر سوداګریزه کرنه یا هم په یوه وخت کې پر دواړو تمرکز ؟ د افغانستان د کلیوالو سیمو د بېوزلو د ملاتړ او د سوداګریزې کرنې د پراختیا تر منځ څه اړیکې دي؟ په هغه وخت کې چې د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ اجرایيوي لنډیز ولیکل شو، سوداګریزې کرنې د کلیو او کرنې د پراختیا د سکتور د ستراتیژۍ د موخو په سر کې ځای درلود:[۷۱]

دخصوصي سکتور د پانګې د راجلبولو او په یوه د لوړ ارزښت لرونکې کرهنیز سوداګریز سکتور د کرنې بدلول د معیشت لپاره د ودې او پراختیا یوه ښه وسیله ده. دولت به د کرنې او کلیو د پراختیا یو همغږی پروګرام چې دوه موخې لري پلې کړي: (۱) د بېوزلۍ را ټیټول او (۲) د معیشت دځای نیونکو (بدیل ) وړاندې کول. د کرنې او کلیو د هراړخیزې پراختیا د پروګرام د سکتور ستراتیژۍ ته چې اصلي موخه یې د اقتصادي بیارغونې له لارې د بېوزلۍ راټیټول دي لاره اواروي. او ټولیز تمرکز یې د کلیوالي ټولنو ترټولو زیاتو زیان منونکو او بېوزلو خلکو ملاتړ دی. هغه څه چې د ملي پراختیایي ستراتیژۍ لپاره د کرنې او کلیو د پراختیا د سکتور د ستراتېژۍ د بحثونو څخه رامنځ ته کېږي، د پالیسي جوړونې د یو ماتې خوړلې، بې نظمه او ستونزې جوړونکې بهیر نښې نښانې دي چې ګڼ لاملونه لري. تر یوې کچې کېدای شي دا ماتې لدې امله وي چې د کرنې او کلیو د پراختیا د سکتور پالیسي د جوړونې دنده د کلیو د اقتصاد په اړه د بېلابېلو لیدلورو، صلاحیتونو او درک لرونکودوو وزارتونو ته سپارل شوې وه. په داسې حال کې چې هغه لاره چې د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیژۍ سکرتریت د یوه یو ټوټه سکتور د پالیسۍ لپاره د فشار واردولو لپاره ترې کار اخیستو، مناسبه نه وه او په بشپړ ډول یې له هغې لارې سره ټړاو درلود چې د پالیسۍ په جوړښت کې د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د سکرتریت لخوا کارول کېده او له پورته څخه ښکته مدیریتي بڼه، او د کرهنې او کلیو د پراختیا د سکتور د ستراتیژۍ اړوند یې خپله اجنډا درلوده او په ژوره توګه د یوه بسپنه ورکونکې یعنې د امریکې د متحدو ایالاتو د پراختیایي ادارې تر اغیزې لاندې وه.

## د پالیسۍ له یاده وتلی بحث

کرنه له دې امله چې د بېوزلۍ په را ټیټولو او د تولید په وده کې ښغه ونډه لري، ارزښتناکه ده. د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسۍ درې واړه فلسفې په پراخه توګه د کرنې د دوه ګونو رولونو په اړه بحث کې د شاملیدو په چاره کې پاتې راغلي، په دې توګه د هرې یوې فلسفې د جوړښتي نیمګړتیا د په نښه کولو لپاره د ګټورو اړیکو د را مینځ ته کولو په کار کې پاتې راغلي دي. دا د هغه څه د یادونې لپاره چې د پالیسۍ په بحث کې یې برخه نه درلوده مهمه ده. تر یوې کچې دا یو تخنیکي بحث دی، خو له بل پلوه د ددې لپاره چې انتخابونه روښانه او د بحث وړ وي سیاسي مفهوم هم لري.

۶۹ د افغانستان دولت، د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي، ۸۷

۷۰ د افغانستان دولت، د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي، ۱۱

۷۱ فیتزربرګ، ((د کلیو تنوع او مقاومت))، ۳۲

هغه مهمې ټاکنې چې باید د کلیو د پراختیا په اجنډا کې او هغه راکړه ورکړه کې چې باید وسپړل شي د پالیسۍ د بیوزلۍ د راټیټولو د موخو، د حاصلاتو د ودې او په افغانستان کې د ننه د سیمه ایز انډول ترمنځ دي. چې دا ټول سیاسي انتخابونه دي. د هرې موخې د بشپړېدو لپاره د پالیسۍ بېلابېلو اقداماتو ته اړتیا ده، خو دا چې په څه ډول دغه اقدامات جوړ او تر منځ یې تناسب رامنځته شي، هراړخیزو بحثونو او د راکړې ورکړې لومړیتوبونو پېژندلو ته اړتیا ده. د کنایې په ډول ،ګڼ شمېر هغه عناصر چې کولای شي د پورته یادو شویو موخو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي، د بېلابېلو فلسفو تر منځ موندل کېدای شي چې هر یو خپلې ښېګڼې لري مګر د پالیسۍ دا درې واړه فلسفې چې د کرنې او کلیو د پراختیا دسکتور په ستراتیژۍ کې شاملې دي ددغو مسالو په نښه کولو کې پاتې راغلې دي.

د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسي جوړونې د هڅو د بریا لپاره اړینه وه چې د افغانستان دبدلون په حال کلیوالي اقتصاد په اړه ښه پوهاوی ترلاسه شي او په څنګ کې یې د دغه سیسټم د تنوع او دبدلون دغښتلتیا لاملونو ته هم پاملرنه وشي. د کلیوالي اقتصاد په اړه په ښه پوهاوي کې نه یواځې باید په ۱۹۹۰ لسیزه[72] کې د کرهنیز نوښت او همدارنګه د غنمو د حاصلاتو زیاتوالی شامل شي بلکه باید د کوکنارو د کمښت او زیاتوالې مسئله هم په پام کې ونیول شي او له بل پلوه هم دغه مسئله باید د کلیوالي بوختیا په اړه هغو پوښتنو ته چې د کلیو د پراختیا اجنډا باید هغو ته ځواب وواییي، پاملرنه وکړي. همدا شان دا به هغه بیا پیژندنې ته زور ورکړي چې په خواشینۍ سره تر اوسه د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسۍ په بحث کې له پامه غورځیدلې دي، په دې ډول د پالیسۍ د حکایتونو د مجاز ګڼلو له کړۍ څخه بهر زیات شیان شته چې تقریباً ددولت برخلاف جوړشوې دي لکه تخنیکي بدلونونه او غیررسمي پورونو ته لاسرسي.

مګر دخلکو لپاره د کرهنیزو محصولاتو او د هغوی د کلیوالي معیشت په اړه د بحث کولو پرته ،شواهد روښانوي چې په کلیو کې زیاتې کورنۍ نشي کولای خپلې د اړتیا وړ غلې دانې تولید کړي او د خوراکي توکو د تامین لپاره بازار ته لاسرسي ته اړتیا لري[73]. د کلیو زیات شمېر اوسېدونکې کرهنیزې ځمکې نه لري او د دوي عایدات په زیاتېدونکې بڼه د غیرکرهنیزو او د ځمکې څخه پرته نورو سرچینو له لارې تامینېږي[74].

اړیکو هم د مواصلاتي لارو او هم د مخابراتي سیټم د ښه کېدو له لارې د کلیو اقتصاد ښه کړی دی او ان تر دې چې په ځانګړې توګه د هغو کسانو لپاره چې کمې کرهنیزې ځمکې لري، د کرنې پرته زیاته تنوع به وهڅوي. په پای کې د هغو سیمو تر مینځ چې په ښه توګه له یو بل سره نښلول شوي، هغه سیمې چې سوداګریزې دي او لوړ تولیدي ظرفیت لري او د هغو سیمو تر مینځ چې په کمزورې توګه سره نښلول شوې دي، توپیر به رامینځ ته شي. چې په دې اړه د پالیسۍ په اسنادو کې لږ بحث شوی دی.

کرنه کېدای شي د ودې د انجن[75] حیثیت ولري او کولای شي په کرونده، کلیوالي سکتور او په ملي کچه د بېوزلۍ په راټیټولو کې لویه ونډه ولري. مګریو لړ اړین شرایط او ورتیاوې شته چې د دغې انګیرنوعمومیت تر پوښتنې لاندې راولي او په پراخه کچه د ودې پر کیفیت، او هغه اندازې پورې چې د کارګرانود جذب لامل کیږي اړه لري. لکه څرنګه چې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ د وزارت ماسټرپلان دیوې کروندې د سروې یادونه کوي، چې د کروندو په سلو کې تر ۵۸ له ۲ هکټارو څخه کمه وه او ددې وړتیا نلري چې آن د خپلو عایداتو نیمایي برخه هم له هغو ځمکو څخه ترلاسه کړي. نو لدې کبله د کرنې د ودې یوه ستراتیژي کولای شي په هغه صورت کې ګټوره وي چې په سلو کې ۴۰ د ۲ هکټار څخه د زیاتې ځمکې لرونکې کروندګر خپله موخه وګرځوي. د کمو ځمکو لرونکو کروندګرو لپاره زیات دلیلونه شته[76]( د بېلګې په توګه په خپلو پېښو د درېدلو لپاره د غنمو پر کښت تمرکز، د نغدو پیسو او د موسمي کارکوونکو نشتوالی)

۷۲ جوګریس او آدم پین، په افغانستان کې د کلیو د اقتصاد او معیشت په اړه بیا تفکر (کابل، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۱۳۸۲)

۷۳ د بېلګې په توګه په ۱۳۸۵ کال کې: له افغانستان څخه بهر دکډوالۍ مهمه ونډه وګوری تر څو د نشه یي توکو او د کلیو د اقتصاد د کمښت د اغېزو په وړاندې د کورنۍ د پایښت لامل شي.

۷۴ خاویر لین، لین لین، کولین تیرتیل او استیو ویګینز، (( د کرهنیزو تولیداتو وده او د بېوزلۍ کمول ))، د پراختیایي پالیسۍ بیا کتنه، ۱۹، ۴ ګڼه، (۱۳۸۰) ، ۴۲۲ ۴۹۹

۷۵ کارولین آشلي او سیمون ماکسویل، (( د کلیو د پراختیا په اړه دوهم ځلې تفکر ))، د پراخیتایي پالیسۍ بیا کتنه، ۱۹، ۴ ګڼه، (۱۳۸۰) ، ۳۹۲ ۴۲۱

۷۶ نړیوال بانک، (( د پراختیا لپاره کرنه، د نړیوالې پراختیا راپور، ۱۳۸۷ ))، (واشنګټن، نړیوال بانک، ۱۳۸۷)

چې دا د سوداګريزې کرنې سره د دوی اړيکې محدودوي.

مګر اصلي پوښتنه چې بايد د کرهنيزې ودې د موډل په پام کې نيولو سره ورته پاملرنه وشي، بيه او ګټه ده. که څه هم چې پدې وروستيو کې د کرهنيزو توکو دبيو لوړوالی دی، مګر د کرهنيزو توکو د بيود ټيټيدلو په برخه کې اوږدمهاله ليوالتيا موجوده ده. نړيوال بانک د لوړارزښت لرونکو کرهنيزو محصولاتو په اړه نوې کرهنيز انقلاب ته هيله مند دی، او پداسې حال کې چې په پياوړې توګه پر هغه استدلال کوي، او د امريکې د متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيايي ادارې له موقف څخه زيات لېرې ندی، او په آزادو کرهنيزو بازارونو کې د بيو د بې ثباتۍ پر اصلي ستونزه ستر ګې پټوي. د دغې ترکيب اغېزې په افغانستان کې د کرهنيزو ځمکو داندازې د کموالې او طبيعي سرچينو خنډونه په دې مانادي چې سوداګريزه کرنه د هغو کسانو لپاره چې سرچينې او مهارتونه لري، د سوکالۍ لاره وي؛ مګر نه د هغو کسانو لپاره چې په ليرې پرتو اويا ګوښو سيمو کې ژوند کوي.

هغه څه چې په ټوليزه توګه د افغانستان د کليو د پراختيا په اجنډا کې له پامه غورځيدلې دي، په زياتو ګوښو سيمو کې د کوچنيو کروندګرو ملاتړ دی. د تېرو شنو انقلابونو ( په ۱۹۴۵ کال کې پيل شو چې د کرنې په برخه کې د ستر بدلون څرګندونه کوي چې په پايله کې يې مکسيکو چې په ۱۹۴۳ کال کې د خپل د اړتيا وړ غنمو نيمايي برخه يې د بهر څخه واردوله په ۱۹۵۶ کال کې د غنمو له پلوه په ځان بسيا يو هيواد شوچې په ۱۹۶۴ کال کې يې نيم مليون ټنه غنم بهر ته صادرول ) څخه لوستونه ښيي چې د پراختيا په حساسو پړاوونو کې د کرهنيز بازارد ملاتړ په اړه د دولت فعال اقدامات کيدای شي پداسې بدلونونو کې يوه ځانګړتيا وګڼل شي[77]. پدې اقداماتو کې کېدای شي د بازار د ګټورتيا په اړه د دولت زياتې مرستې، د محصولاتو ليږد او موسمي مالي مرستې شاملې وي تر څو د کوچنيو کروندګرو دلوړو را کړو ورکړو لګښتونه کم کړي. دا کار په قطعي توګه د دولت لخوا د بازار د زياتو تنظيماتو او د کرنې د سکټور لپاره د خدمتونو او توکو په برخه کې زياتې پانګونې ته اړتيا لري تر څو د لګښتونو د کمولو او د ګټورتيا د زياتوالي لامل شي. همدارنګه دا کار کيدای شي د توليد د زياتوالي په موخه دټولنيزې سوکالۍ په ليږد کې شامل وي. لکه د کيمياوي سري سبسايدی او د کليوالي سيمو د بېوزلو خلکو سره مرسته تر څو وکولای شي د کليو ناکرهنيز اقتصاد ته د داخليدو پر وړاندې ګڼ شمير خنډونه له منځه يوسي. دا ډول ملاتړ کولای شي د شته عمومي خنډونو د له منځه وړلو، د عامه توکو په برخه کې پانګونې، د کليو او ښارونو د اړيکو لپاره د اسانتياوو وړاندې کولو او د پانګې د ودې ملاتړ له لارې به ګټورو او حاصل ورکونکو فعاليتونو ته د دوی لاس رسي ډيره کړي[78].

په لنډه توګه د پاليسۍ يوه بله فلسفه هم د کرنې او کليو د پراختيا لپاره د جوړيدو ته ستر ګې په لاره ده چې د پاليسۍ د اوسنيو درې موقفونو په اړخونو متکي ده ترڅو وکولای شي دغو موضوعګانو ته ځواب ووايي. خو دا د پاليسي جوړونې يوې ډيرې مشورتي کړنلارې ته اړتيا ولري.

77 جاناتن دوروارد، جاناتن کيډ، جمي ماريسون او يان اوري، (( د بېوزلو په ګټه د کرنې د ودې لپاره د پاليسۍ يوه اجنډا ))، نړيواله پراختيا ،۳۲، ۱ ګڼه، (۱۳۸۲): ۷۳ ۸۹

78 دانيل ستارت: د کليو ناکرهنيز اقتصاد ټيټوالۍ او جګوالۍ: د بيوزلۍ اغيزې او د پراختيايي پاليسۍ بيا کتنه ۱۹، شميره ۴ ،(۱۳۸۰) ۴۹۱ ۵۰۲

# ۵. مو نږ چېرې تلای شو؟

دغه توضیحي پانګه دا استدلال کوي چې د کرنې او کلیو د پراختیا په سکټور کې پالیسي جوړونه کیدای شي د درې ګونو فلسفو په واسطه چې د نا برابرو شرایطو لاندې د ځای د موندلو لپاره سیالي کوي ځانګړې شي. هغه څه چې څرګنده ده دا ده چې د پالیسۍ فلسفه د شواهدو پر بنسټ نه بلکې د ګټو پر بنسټ را مینځ ته شوې ده. سربیره پردې د پالیسۍ ډېرې اړیکې ددې پر ځای چې د پالیسۍ یو نوی لرلید چمتو کړي د هغو ګټو دفاع کوله او یا دا چې د پالیسۍ په اړه د ماهیتي بحثونو هرکلی وکړي. په پایله کې هغه موضوع ګانې چې د دغو درې ګونو فلسفو په منځ کې دي، په پراخه کچه ترې سترګې پټې شوې دي. ولې د پالیسۍ د هر حکایت پلویان په پیاوړې توګه په خپلو نظرونو ولاړ دي؟ تر یوې اندازې دا موضوع پدې پورې تړلې ده چې هر موقف د جګړې وروسته افغان دولت د ماهیت په اړوند د بېلابېلو بنسټیزو نظرونو ملاتړ له ځانه سره لري. تولیدونکی موقف په پراخه کچه د تېرو غوښتنو پر بنسټ ولاړ دی چې دا د هغه لیوالیتا څخه چې دیو پیاوړې وزارت دبیا جوړولو لپاره او هغه ګواښ څخه چې د کرنې، اوبو لګولو، او مالدارۍ وزارت لپاره د سمون د اجندالخوا رامنځته کېږي د پوهېدو وړ دی، چې دا یو دفاعي موقف ګڼل کېږي. مګر د پالیسۍ د پراختیا ورکوونکې فلسفې په اړه، د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت پلویان د دولت د منځني حضور د مجاز ګڼلو په اړه د تمویلوونکو د نظر سره همغږي دي او لدې کبله د تمویلوونکو تر منځ د ځان لپاره سم لاسي ملاتړ تر لاسه کوي. مګر د تمویلوونکو د نظر د عمومي یووالې څخه ترلاسه شوې "بنه پالیسي" د خوځوونکو ځواکونو په برخه کې ژورې کمزورۍ لري، په همدې توګه د هغوی پوهاوی او هغه پاملرنه چې شرایط او کلتور مشخصوي محدود دي.[۷۹] همدارنګه بازار هڅوونکې فلسفه د خصوصي سکټور د رول په اړه یو ځانګړی کلتوري لید څرګندوي او د دولت لپاره د کرنې او کلیو د پراختیا په برخه کې منځنی رول مني. دا هغه فلسفه ده چې په بې پروایي عرضه شوې ده. هغه هڅې چې د کرنې او کلیو د پراختیاد سکټور په ستراتیژۍ کې ددغو بیلابیلو او توپیرلرونکو فلسفو د یو ځای کولو لپاره شوي تر څود هرې یوې فلسفې جوړښتي کمزورۍ په نښه کړې ناکامه شوې دي. په پایله کې د ښې پالیسۍ د جوړولو او د پالیسۍ د انتخابونو د سپړلو فرصت په بشپړه توګه له لاسه وتلی دی. د دولت د مشرتابه اغېزمنتیا په څرګنده توګه پر بهرنیو مرستو د تکیې کولو له کبله متناقضه ده، او ددې لامل ګرځېدلې چې د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسۍ افغان «ملکیت» پرته له کوم ماهیت او مفهوم څخه یواځې یو نوم پاتې شي. د دولت د بودیجې د کنټرول څخه بهر د پروګرامونو خپلسر تمویل او په[۸۰] ( خپله د تمویلوونکو په وسیله) په ټاکلو ولایتونو کې د پروګرام پلي کول پدې مانا دی چې د بسپنه ورکوونکو مرسته او د دولتي ظرفیت جوړونې نړیوالې پراختیایي موخې هغه شان چې د پاریس په اعلامیه کې پرې ټینګار شوی دی، په ځای شوې ندي. پداسې حال کې چې د تمویلونکو د پروګرامونو د یووالې په برخه کې هڅې شوېدي نوموړې توضیحي پانګه څرګندوي چې تر اوسه په افغانستان کې د تمویلوونکو او د دوی د دولتي سیالانو تر منځ دپام وړ یووالی نشته . د بېلابېلو تمویلوونکو او دولتي سازمانونو تر منځ د ګټو اختلاف او د دغو ګټو د اداره کولو په برخه کې د دوی د ستونزو له کبله په افغانستان کې د ښې پالیسۍ د جوړولو لپاره (اړین) ظرفیت ډېر کم دئ او تر هغه وخته چې زیاته همغږي رامنځته نشي،د پالیسۍ پر اجنډا باندې د افغانانو د مالکیت تصور ډېر ستونزمن دی. همدارنګه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت او د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت تر منځ د توپیر شتون په دې اړه چې پر مرستو تکیه د دولت ملکیت کمزوری کوي، او دا چې ددغې تکیې اغیزې او لاملونه څه دي یو شمیر پوښتنې را پاروي. د کلیو د پراختیا او بیارغونې د وزارت په پرتله د تمویلوونکو له خوا د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په برخه کې بې پروایي شوې ده چې کیدای شي په بیلابیلو بڼو تفسیر شي. د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په پرتله چې لږ بریالیتوب یې درلوده او له کبله یې نه وو توانېدلی چې مالي سرچینې جذبې کړي، پیاوړې وو او مالي سرچینې یې جذب کړې

۷۹ ها جون چانګ، د زینې پرېښودل: په تاریخي لرلید کې پراختیایي ستراتېژي، (لندن، آنتم پریس، ۱۳۸۰)

۸۰ پین او شا، ((د کرنې او کلیو د پراختیا په برخه کې پالیسي جوړونه))، ۳۳

دي. ځواکمنتیا د مالي تمویل لامل ګرځي له بل لوري د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د یوه تمویلوونکې د اجنډا موخه ده چې کېدای شي د دغه وزارت ګوښه کېدل لا پیاوړي کړي یا یې نه کړي. په ظاهر کې دواړه لارې ممکنې دي. خو کېداي شي هغه لار وټاکو چې د دولتي پالیسۍ جوړونې بهیر تر یوې اندازې په پام کې ونیول شي، د افغانستان ملي پراختیایي ستراتېژي جوړه شوه، خو د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتېژۍ د سکرتریت چال چلند د وزارتونو او تمویلوونکو سره په روڼ او مشورتي ډول نه وو، آیا دغه کړنلاره چاته حیرانوونکې وه؟ ځواب (نه) دی. د کرنې او کلیو د پراختیا د سکټور د ستراتېژۍ په جوړښت کې د افغانستان ملي پراختیایي ستراتېژۍ د ښکیلېدو راهیسې د پالیسۍ جوړولو د ژورسیاسي بهیر ځرګندوونکی ؤ او دا هغه څه دي چې یو مشخص پېژندګلوي او ځرګند ځواب ته اړتیا لري. هغو شواهدو او استدلالونو ته په پام چې په اوسنۍ توضیحي پاڼه کې وړاندې شوي، درې مشخصې سپارښتنې وړاندې شوې دي:

۱. لمړی دا چې زیات څېزونه شته چې باید د کرنې او کلیو د پراختیا د پالیسۍ په بحثونو کې شامل شي. او د دې پر ځای چې د دغو دریو فلسفو لخوا په وړاندیز شویو حل لارو تکیه وشي باید د بحثونو پر مخ بېولو ته ښه فضا رامنځته شي او زیات شواهد او دلیلونه وړاندې شي. د پالیسۍ د جوړولو لپاره ډېرې پاملرنې ته اړتیا ده چې پراخ ملاتړ راجلب کړي نه داچې یواځې هغه خپاره شوي سپارښتنې چې څه باید تر سره شي را منځ ته یې کړي. د سلامشورو د فضا په رامنځته کولو کې پاتې راتلل کېدای شي بسپنه ورکونکو د چلند، په ځانګړې توګه په دې اړه چې پالیسي باید څه وي د سپارښتنو په اړه، او همدارنګه د پالیسۍ جوړولو د سیاسي ماهیت منلو ته نه لېوالتیا سره تړلې وګڼل شي. دا ماتې همدارنګه د عمل لپاره پوهه ځرګندوي. د پالیسۍ په اړوند د پوښتنې کولو موخه داده چې مشورتي دود رامنځته کړي. نو پدې توګه د پالیسیو د ټاکنو په اړه جدي بحثونه رامنځته کېدای شي. د پالیسۍ هغه خپلواک شنونکې چې دبسپنه ورکونکو د پالیسۍ مشخصو موقفونو سره تړاو نه لري کولای شي په دې اړه یو مهم رول ولوبوي یعنې د وزارتونو سره مرسته وکړي، د پالیسۍ په بحثونوکې منځګړیتوب وکړي او د استدلالونو شننه وکړي تر څو د پالیسۍ لپاره تخنیکي پیاوړتیا او سیاسي ملاتړ را مینځ ته کړي. چې دا کولای شي پر پالیسیو د افغان وزارتونو د ژور مالکیت لامل شي.

۲. د پالیسۍ په جوړولو کې یواځې موسسې نه شاملېږي او هغه بېلګه چې د دغې پاڼې له بحثونو څخه لاسته راځي هغه رول دی چې وګړي او شخصیتونه یې د پالیسۍ جوړولو په بهیر کې لوبوي او د پالیسۍ د مشخصو ټاکنو څخه ملاتړ کوي. د پالیسۍ جوړونې دغه اړخ کېداي شي جوړوونکې او یا ویجاړونکی وي. که یو څوک د پالیسۍ جوړولو پر بهیر د اغېزې غوښتونکې وي، یو کس کولای شي د اصلي فعالینو سره د کار کولو له لارې خپلې اجندا ته د پالیسۍ جوړولو په بهیر کې وده ورکړي. د پالیسۍ جوړولو لپاره وګړې باید د باتدبیره (ستراتیژیک )اوسیدلو اړتیا درک کړي او سیاسي ګټې په پام کې ونیسي. دا کار د نورو ښکیلو اړخونو ځانګړو سیاسي ګټو درک ته اړتیا لري چې د هغوی د پالیسۍ د ځانګړو موقفونو بنسټ جوړوي او باید دا سې لارې ولټول شي چې دغه ټولې ګټې د پام وړ وګرځي تر څو وکولای شي زیات ملاتړ رامنځته کړي.

۳. دریم دا چې بسپنه ورکونکې باید له ځانه زیاته تواضع وښیي او د افغانستان په اړه خپله بې خبري تایید او هغه په نښه کړي. د یوې ډېرې مشورتي پالیسۍ جوړولو دبهیر یوه مهمه برخه د افغانستان د کلیو د شرایطو په اړه زیاتې پوهې او بحث ته او دا چې د پالیسۍ ستونزې څه دي ، اړتیا لري. دا پدې مانا ده چې تمویلوونکې باید د یوې «ښې» نړیوالې او عامې پالیسۍ څخه ډډه وکړي او د افغانستان د کلیو د ځانګړې اقتصادي موقعیت په پېژندلو کې پانګونه وکړي. «د افغانستان پېژندنې»[۸۱] په اړه د بریتانیې لخوا وروستی څېړنې او شننې د ځانګړو شرایطو د پوهاوي په اړه د یو بسپنه ورکونکې د پانګونې یوه ښه بېلګه ده او د DFID د هیواد سره د مرستې د نوې پلان لپاره تر ې ګټه واخیستل شي. «افغانستان پېژندنه» سمې لورې ته یو ګام دی که څه هم چې کېداي شواي دغه چاره مخکې سرته رسېدلې وه او باید د راتلونکې لپاره هم هرو مرو ادامه وموم.

۸۱ Dfid, "Project Deliverables: Understanding Afghanistan," DfID, http://www.cowiprojects.com/fsdc/projects.html (accessed March ۱۱, ۲۰۰۹).

# د خيړنې او ارزونې د اداري وروستنۍ خپرونې

| | |
|---|---|
| ۲۰۰۹ کال جون | د لاس رسۍ څخه تر اغيزې: په افغانستان کې کوچني پورونه او کليوالي معيشتونه، د پاولا کانتور ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال جون | د افغانستان په ښاري او کليواله سيمو کې د بيوزلۍ لاملونه د ماشومانو د کار څخه د استفادې پريکړې اغيزمنې کوي، د پاميلا هنت ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال جون | د اوبو اداره ، د څارويو او د ترياکو اقتصاد د بيوزلو په ګټه د کرنې د ودې فرصتونه، د لورن فلمينګ ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال جون | پاليسي نامه: د مرستو د اغيزمن کيدو لپاره دوه اړخيزې حساب ورکونې ته وده ورکول، د ربيکا رابرت ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال مى | په افغانستان کې د ماشومانو د کار په وړاندې چال چلند ، د امندا سيم ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال مى | د کليو د پراختيا او کرنې په برخه کې پاليسي جوړونه، د آدم پين ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال مى | د کوکنارو څخه خلاص ولايتونه: يوه اندازه يا يوه نښه ؟، د داويد منسفيلد ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال مى | د څارويو د ومحصولاتو د اغيزمن کيدو لپاره څيړنه او پراختيا ، د ايوان تامسن ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال مى | د انضباط او واک تر مينځ: د لوړو سيمه ايزو ټاکنو شاوخوا پاليسي ګاني، د مارتين وان بيجلرت ليکنه |

د افغانستان د څيړنې او ارزونې اداره (AREU) په کابل کې ميشته يوه نا پيلې څيړنيزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکې څيړنو له لارې پرپاليسۍ او چارومثبتې اغيزې دي. همدا راز نوموړې اداره هڅه کوي څو په افغانستان کې د څيړنې او زده کړې کلتور ته د تحليلي ظرفيت د پياوړې کولو او د فکرونو او بحثونو د آسانولو له لارې په فعاله توګه وده ورکړي. ددې ادارې اصلي موخه دڅيړنې له لارې د افغانانو د ژوندانه ښه والي دى.

نوموړې اداره په۱۳۸۱المريز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندويه ټولنو په مرسته په کار پيل وکړ او د يو مديره هيات درلودونکې دى چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخيزو ادارو ، او نا دولتي ادارو له خوا يې استازيتوب کيږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلي بودجه د فنلند ، ناروى، سويډن، سويزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. ددې ادارې ځانګړې پروژې د افغانستان د پرانيستې ټولنې د انستيتيوت (FOSIA) ، آسيايى بنياد (TAF)، اروپايي کميسيون (EC)، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنري (UNHCR)، د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (UNICEF)، د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پراختيايي صندوق (UNIFEM)، او نړيوال بانک له خوا يې مالى ملاتړ کيږي.


دګل پلورلو کوڅه (د دوهم سرک کنج)، نوې ښار ، کابل، افغانستان

وب سايټ: www.areu.org.af برېښنا: areu@areu.org.af ټيليفون: ۵۸۴ ۲۰۸ ۷۹۹ (۰) ۹۳+